۶۱۷

هفته نامه

بجز اصلاح اراده دیگری ندارم سوره هود ۸۸

اصلاح ملی

سیاسي، ټولنیزه او فرهنګي اوونیزه

نهمه ګڼه ۱۳۹۵المریز کال د جوزا ۱ د ۱۴۳۷ هـ ق دشعبان المعظم ۱۴مه د ۲۰۱۶ ل د می ۲۱ مه

استقبال از ماه رمضان

با روزه گرفتن درماه شعبان

تلفات سنگین

حوادث ترافیکی

در افغانستان

Nima Najafzadeh

ټوټاپ،

قومي دعوه کې

بنده پروژه!

د الله تعالی په لارکې د ازمیښتونو ګټې

تر هر څه وړاندې باید دا خبره په نظر کې وساتل شي چې د مسلمان لپاره دا صحیح کار نه دی چې په زوره خپل ځان ازمیښتونو ته وروړاندې کړي او یا دا چې په زوره دې ځان په ذلت کې نه اچوي او یا داچې په خپل ځان باندې کافران مسلط کړي او د نورو لپاره هم دفتنې لامل وګرځي، البته که په غیراختیاري توګه د الله تعالی له مقدراتو او حکمتونو سره سم ازمیښتونو سره مخ شو، نو بیا دې د صبر او تقوی لاره خپله کړي او په پای کې به الله تعالی نصرت او کامیابي ورپه برخه کړي.

کله چې مسلمانان له ازمایښتونو سره مخ کېږي، نو بې‌له شکه چې که یو پلوته پکې تکلیفونه او زحمتونه شته، بل پلوته پکې ډیرې ګټې او فائدې هم شته چې موږ به ورته په لاندې ټکو کې اشاره وکړو:

امام عزالدین محمد بن عبدالسلام په دې اړه په زړه پورې شیان لیکلې دي:

لومړی: د الله تعالی قهر او غلبه په ښه شان سره درک کول.

دویم: د الله تعالی پر وړاندې د خپل ځان عبودیت ذلت او کمزورتیا پیژاندل، په دې اړه الله تعالی فرمایلي دي: ﴿الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾ (البقرة: ١٥٦) ژباړه: صابران هغه کسان دي کله چې دوی ته څه مصیبت ورسیږي نو وایې چې مونږ دالله یو او مونږ همدې الله ته بېرته ورګرځیدونکي یو.

له دې مبارک آیت څخه معلومه شوه چې د الله تعالی صابر بندګان د مصیبت اوازمیښت پر مهال دا اعتراف کوي چې دوی د الله تعالی په ملکیت کې دي او هغوی د ده کمزوري بندګان دي او دوی د الله تعالی حکم او تدبیر ته ورګرځیدونکي دي او په دې خبره اعتراف کوي چې له الله تعالی څخه د تېښتې ځای نه‌لري او نه هم له هغه څخه دتېښتې لاره شته.

درېیم: د ازمیښت په پایله کې په بنده کې اخلاص پیداکیږي، داځکه چې دی پوهیږي چې سختۍ او ستونزې یوازې الله تعالی لرې کولای شي او له هغه جل جلاله نه پرته د مرستې بله سرچینه نه شته ، الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ فَلا كَاشِفَ لَهُ إِلاَّ هُوَ﴾ (الانعام: ١٧)

ژباړه: او که چېرې الله تعالی تاته څه ضرر در ورسوي، نو پرته له الله تعالی څخه د هغه پورته کوونکی نه‌شته.

څلورم: ازمیښت په انسان کې عاجزي پیدا کوي، او دیته یې اړباسي چې یوازې له الله تعالی څخه هر څه وغواړي او له بل چا نه څه ونه غواړي. الله تعالی فرمایي: ﴿وَإِذَا مَسَّ الإِنْسَانَ الضُّرُّ دَعَانَا﴾ (یونس: ١٢) ژباړه: کله چې انسان ته ضرر ورسیږي، هغه مونږ رابلي

پنځم: په سختیو او امتحانونو الله تعالی د خپلو بندګانو ګناهونه ښني، که مسلمان ته یو وړوکې مصیبت هم رسیږي، الله تعالی پرې دهغه ګناهونه ښني.

شپږم: په امتحاناتوکې داسې پټې ګټې هم شته چې مونږ یې نشو درک کولای، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: ﴿فَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا﴾ (النساء:١٩)

ژباړه: کیدای شي چې تاسې یو شی بد ګڼئ په داسې حال کې چې الله تعالی په هغه تاسې ته ډیر خیر مقرر کړی وي.

لکه څرنګه چې الله تعالی ابراهیم علیه السلام له یوه جابر حاکم سره په ازمیښت کې واچاوه او دده مهاجره او بې وطنه بې بې یې ورڅخه په زور روانه کړه، خو د الله تعالی په رحم یې بې بې هاجره په خدمت کې ورکړه او بیا الله جل جلاله هغه لوی شخصیت حضرت اسماعیل علیه السلام ورڅخه پیدا کړ او بیا الله تعالی دهغه له اولادې څخه د اخرې زمانې رسول محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم پیداکړ.

مولوي امین الله ازره وال

اصلاح ملی را از اینجا بدست آورید

کابل: تایمنی، چهار راهی حاجی محمد داد، سرک ۴، دفتر مرکزی جمعیت اصلاح. تیلفون: ۰۷۸۱۵۴۴۱۱۵

کابل: کوته سنگی، سرک سیلو، بلاک های شاداب ظفر، انتشارات اصلاح افکار: موبایل: ۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲

کابل: شهر نو، چهار راهی انصاری، کتاب فروشی رسالت. ۰۲۰۲۲۰۳۳۵۹

کابل: انتشارات مستقبل مقابل بلاک های شاداب ظفر،

کابل: کمپیوتر فروشی الکاموي جاده نادر پشتون، مارکیت الله نظر منزل۲ دوکان ۲۳/ . ۰۷۹۹۳۹۰۸۱۹

کابل: کابل ده افغانان کتاب فروشی بیهقی

کابل: انتشارات بنیاد علمی و فرهنگی مسجد جامع پل خشتی ۰۷۹۹۰۱۱۱۱۱ / ۰۷۵۲۲۲۲۲۲۲

ننگرهار: جلال‌آباد، چهل متره سرک، د سید اکرام دوکانونه، د ماشومانو زور محبس ته څېرمه د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر تیلیفون: ۰۷۰۰۶۳۲۴۸۰

جلال اباد- اسحاقزی مارکیټ، لاندې منزل، اصلاح افکار تلیفون: ۰۷۹۳۷۷۸۸۸۱

کندهار: نوی ښار، د هرات سرک، د سرې جامع غرب طرف ته سوري مېنه د امام ابوحنیفه رح، تعلیمي او کلتوري مرکز د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر تلیفون: ۰۷۰۵۲۳۰۵۸۳

لغمان: مهترلام ښار، حمزه مارکیټ تیلفون: ۰۷۷۵۶۷۶۰۹۹

هرات: سرک باغ آزادی، ابتدای جاده محبس ابن سینا انجمن اخلاق و معرفت شماره های تماس: ۰۴۰۲۳۷۰۱۲ - ۷۸۹۰۰۸۱۵۲

بلخ: گذر استالفی ها، عقب لیسهٔ خانه نور، دفتر ساحوی بلخ ۰۷۸۸۸۰۴۰۵۵

کندز: شهر کندز، جاده ولایت، کوچه حاجی میری، مؤسسه تحصیلات عالی سلام ۰۷۸۷۷۰۳۷۲٤

بغلان: پلخمری، مارکیت اتفاق کتاب و قرطاسیه فروشی رسالت ۰۷۰۰۵۸۹۸۵۷ / ۰۷۷۷٤۷٦٤٦۹

لوګر: مرکز، مدینه مارکیت سرک مسجد جامع، کتاب فروشی سادات، سید عبدالحمید هاشمی، تیلفون: ۰۷۰۰۴۴۹۸۱

لوګر: محمدآغه، واغجان بازار، پهلوی کلنیک حسین خیل، تیلفون: ۰۷۷۵۴۱۳۸۷۶

پکتیا: د ګردیز ښار، مرکزي چوک، د نمایندګۍ وحید الله: ۰۷۷۹۲۱۳۸۲۲

خوست: افغان تاور شاته خوست مرکزي طبي لابراتوار دوهم پور د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر د اکتر محمد ګلاب: ۰۷۹۹۱۷۴۵۴۶ / ۰۷۷۷۱۷۴۵۴۶

تخار: بازارچه کتاب دکان مولوی حبیب الرحمن ۰۷۷۹۶۳۴۱۹۲

بدخشان فیض آباد: ۰۷۷۵۲۷۰۵۰۸ / ۰۷۰۷۸۳۱۳۶۴

زابل: قلات، عمومي جاده، د نجارانو کوڅه د غوثي رهنمای معاملات ترخنگ، شمیره: ۰۷۰۶۵۲۷۱۸۶--۰۷۷۳۵۸۰۲۰۹

فراه: ناحیه سوم، مقابل مسجد جامع قاضی، مرکز علمی و فرهنگی توحید شماره تماس: ۰۷۹۹۸۴۳۶۱۱

نیمروز: سرک ولایت، نا رسیده به قوماندانی امنیه، مرکز علوم قرآنی اعجاز، سید امیر قریشي: ۰۷۹۶۳۰۹۱٤۰

قیمت یک شماره ۱۰ افغانی

جمعیت اصلاح افغانستان

بخش فرهنگی و نشرات

هفته نامه اصلاح اونیره

دا اسلام دا اصیل فهم منبر

Email:eslahmilli@gmail.com

مدیر مسؤول

محمد شعیب قریشي

اعضاء هیأت تحریر:

نقیب الله حمید
سردارمحمد دیندارخیل
رحیم الله حریفال

وحید الله مصلح
عزیز احمد حنیف

شماره مسئول توزیع: 0744157052

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان کابل بانک
A/c No=1001202080036
(افغانی)

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان کابل بانک
A/c No=1001201080036
دالر امریکائی

سرمقاله

نهایی شدن توافقنامه صلح با حزب اسلامی؛

پیشرفت خوب در راستای صلح و آشتی در کشور

به گزارش رسانه ها، مقامات شورای عالی صلح می گویند که مسودهٔ نهایی توافقنامه صلح با حزب اسلامی را نهایی نموده و متن آنرا به هیئت مذاکره کننده آن حزب تحویل داده اند.

مقامات این شورا در صحبت با رسانه ها ابراز داشته اند، که انتظار می رود طی دوهفتهٔ آینده، رهبری حزب اسلامی این مسوده حاوی سه فصل و ۲۶ ماده را بررسی نموده و آن‌را دو باره به کابل بر گردانند.

بدون شک اشتباهی که در کنفرانس اول بن، پانزده سال قبل از امروز صورت گرفته بود، با نهایی شدن این توافقنامه و پیوستن حزب اسلامی افغانستان به پروسه صلح افغانستان، تا حدی می تواند جبیره گردد و به این طریق بالاخره راهی برای صلح و آشتی برای عده زیادی از گروه ها و سازمانهای که تا حال از پروسه صلح افغانستان به دور مانده اند، نیز هموار گردد.

آن چه از جریان کم و بیش سه ماه مذاکرات مسلسل نماینده گان حزب اسلامی و شورای عالی صلح هویداست، این می‌باشد که هیأت حزب اسلامی این‌بار با جدیت و صداقت پروسه مذاکرات را غرض رسیدن به یک نتیجه ملموس تعقیب کردند و بالاخره به سر منزل مقصود نیز رسیدند که بدون شک این موفقیت را برای آنها از صمیم قلب باید تبریک گفت.

همچنان در این میان نباید از درایت صبر و حوصله قیادت شورای عالی صلح چشم پوشید که در این مدت با وجود همه سنگ اندازی های برخی افراد و گروه های مخالف صلح و آشتی اعم از داخلی و خارجی، پروسه مذاکرات را با صبر و حوصله تعقیب کردند و بالاخره آن را به سرحد موفقیت رسانیدند.

بدون شک در جریان مذاکرات بین دو جانب و دو گروه که از لحاظ سیاسی، اجتماعی و نظامی دارای موضع گیری های جدا گانه و حتی گاه گاه متضاد با همدیگر می باشند، مسایل زیادی پیش می آیند که اگر جانبین با درایت و حوصله مندی روی آن بحث نه کنند و راه حلی برای بن‌بست های به میان آمده در این راستا نیابند، هیچ گاهی این گونه مذاکرات به سرمنزل مقصود نه خواهند رسید.

به همین دلیل است که می توان گفت موفقیت این جریان مذاکرات نتیجه صبر، حوصله و درایت هردو جانب مذاکره کننده بود، که بالاخره توانست به یک مژده خوب و خوشایند برای مردم صلح دوست افغانستان مبدل گردد.

به اساس گفته های مقامات شورای عالی صلح، یکی از اجزای مهم این توافقنامه با حزب اسلامی، بحث روی خروج نیروهای خارجی از افغانستان است که بدون شک برای همه مردم آزاده افغانستان و آنانیکه به تحکیم صلح وثبات دایمی در کشور باور دارند، یک موضوع مهم و اساسی شمرده می شود و خروج این نیرو ها که همیشه یکی از اسباب ادامه جنگ در کشور خوانده شده است، می‌تواند راه را برای پیوستن سایر مخالفین مسلح به پروسه صلح باز کند.

به این ترتیب توافق بین حزب اسلامی و شورای عالی صلح، یک گام بسیار خوب و یک اقدام تاریخی و خیلی مهم برای صلح و آشتی در کشور شمرده می شود و مردم افغانستان بی صبرانه انتظار دارند، تا مراحل نهایی شدن اولین توافقنامه صلح طی پانزده سال گذشته را هر چه زود تر به تماشا بنشینند.

به امید صلح و آشتی دایمی در کشور

ټوټاپ، قومي دعوه کې بنده پروژه!

ډاکټر وحیدالله مصلح

افغانستان چې په تېرو پنځلسو کلونو کې یې د ډالرو په باران باران ماحول کې ستراټیژیکې پروژې و نه لرلې دا به د دې ملت بدمرغي وي چې د بهرني نظامي شتون په تاوان کې یې لږ تر لږه دا ګټه ونه کړه، کله چې محمد اشرف غني د انتخاباتو پر مهال منشور ولیکه نو ډېری وګړو داسې فکر وکړ چې ښايي د هېواد راتلونکی نور له اقتصادي انارشۍ او وروسته پاتېتوبه یو پلان شوي ستراټیژیک پرمختګ واخلي او دا سمه ده چې دا چاره د لنډ مهال نه ده د اوږده مهال ده.

ټوټاپ پروژه یو له هغو ده چې د پخواني ولسمشر په حکومت کې یې د کاغذ پر مخ چارې پرمخ تللې وې، د ملي وحدت په حکومت کې دا هم یوه له هغو پروژو ده چې د عمل ډګر ته راوویستل شوه، د حکومت کابینې پرېکړه وکړه چې د نوموړې پروژې مسیر به له سالنګه تېرېږي، او په دې ډول د هزاره قوم د مشرانو غبرګون د لومړي ځل لپاره مخې ته راغی چې ګنې مسیر به یې بامیان وي، دې دعوې زور واخېست او ګواښونو باالاخره د لاریون بڼه خپله کړه چې تېره دوشنبه یې کابل شاهد ؤ.

برخوردونه او تشویشونه

د کابینې له پرېکړې سره سم له یوې ملي پروژې سره قومي برخورد وشو، یوه لویه پروژه چې له ګڼو ولایتونو تېرېږي او ګټه به یې د ټول افغانستان په خزانه کې غورځېږي، د قومي داعیې په لانجه کې ایساره شوه، دې مسئلې د افغان سیاسي ماحول قومي منظر یو ځل بیا پردې ته راوویست او پر ملي ستېج یې د ملي تفکر بې وسي ننداري ته وړاندې کړه.

دا چې پروژه تخنیکي او فني څېړنې او سروې لري، دا برخه د معترض لوري په ناندریو کې بې حسابه پاتې شوه، او یوازې دا شعار چې ټوټاپ دې یا له بامیان تېر شي او یا دې نه وي، د بوش سرتمبګي له ځان سره لرله، هغه چې یا له مونږ سره او یا زمونږ له دښمن سره... معترض لوري اصلاً دا له پامه وغورځوله چې د بامیان او سالنګ پرتله څومره ګټې او څومره زیانونه له ځان سره لري، دا چې د بامیان د لارې مسیر به څومره ځنډنی وي او دا چې څومره مالي تاوان به له ځان سره ولري، خو بس تخنیکي او فني پرېکړې قومي داعیې ته پاتې شوې او دا هغه څه دي چې ښیي مونږ له مسایلو سره څومره غرضي چلند لرو.

معترض لوري اصلا درېیمه خبره نه لرله، سره له دې چې حکومت اعلان وکړ بامیانو ته به ۳۰۰ مېګا واټه برېښنا ولېږدوي، خو معترض لوري دا هر څه بابیزه واخېسته. دا یعنې څه؟ هلته د برېښنا اړتیا ده او که د پایو؟ په بامیانو کې برېښنا ته اړتیا ده، دا اړتیا یې پوره کېږي، دوی ولې نه پرېږدي چې حکومت د تخنیکي څېړنې له مخې مسیر وټاکي؟

د معترضینو رهبران د حکومت برخه ده، د ولسمشر او اجرایه ریاست دواړو شیعه مرستیالانو د خپل حکومت پرېکړې وننګولې، دوی او نورو هزاره مشرانو په خپل دغه احتجاج سره ځانونه په قومي اډانه کې ډېر لوړتیا غوښتونکي کړل او دا هر څه په ملت کې د ملت جوړونې له پروسې سره مرسته نه کوي، ملت نور د قومي وېش له داعیو وتل غواړي او دا اجنډا ګانې دا ارمان وژني.

معترضینو په شعوري او یا غیر شعوري ډول دې اجنډا تـه کـار وکـړ چې ګنې افغانستان د دې وړتیا نـه لـري چـې دا سـتره مـلي پـروژه دې تطبیق کړي، دلته پر وسله والې بې امنۍ سربېره د مسیر پـه ټاکلو کې دغسې ژوره بې باوري او اخـتلاف موجـود دی، او دا هغـه څه دي چې زمونږ د ژرندې اوبه د ایران په آسیاب کې غورځـوي، او که حالات همدغسې پر مخ لاړ شي نو کېدای شي د ترکمنستان د برېښنا دا مزي د ایران په لار مزلونه ووهي او پاکستان رڼا کړي.

لاریون په څو زاویو کې!

ارګ کوښښ وکړ چې د لاریونیانو له تنظیموونکو سره خبرې وکړي او دوی ګډ کار او پایلو ته راوبولي، خو هغـوی دا غوښـتنه رده کـړه، ارګ تـر لاریـون ورځ مخکـې مـازیګر مهـال اعلامیـه خپـره کـړه، د څېړنو کمېسیون یې وټاکه او د کمېسیون تر نتیجې یـې د پـروژې چارې وځنډولې، ارګ د پروژې ټول اړوند اسناد مشرانو جرګـې تـه هـم ولېـږل، خـو دې ټولـو کړنـو د لاریـون پـه تنظیموونکـو کـې د اعتراض اراده بدله نه کړه، هغـوی د لاریـون پـه شـوق کـې وو او پـه سبا یې لاریون راوویست.

څو میاشتې مخکې هم هزاره قـوم پـه ټولـه تابیـا لاریـون کـړی وو، دوی د ارګ تر دېوالونو رارسېدلي وو او پـه دې کـې شـک نـه شـته چې دا به ښایي د کابل په تاریخ کـې یـو سـتر او بـې ضرره لاریـون وو، کله چې د ټوټاپ پروژې مخ د قومي داعیو رنـګ واخېسـت نـو یو ځل بیا پر ملي منصبونو ناستو رهبرانـو د قـومي اجنـډا پـه ټکـو کـې د میلیـوني لاریـون تابیـا ونیولـه، خـو دا ځـل د لاریـون هغـه ستروالی او بې ضررواليی نه وو، دا ځـل پـه لاریـون کـې حتـی هغـه خبریالان هم وډېول شول چې ښایي د همدې لاریونیانو غوښـتنې یې د هغوی له اصلي حالته په ډېر جـوش کـې منعکسـولې، دا پـلا لاریونیانو تیرې ورولـې او د تشـدد یـو انځـور یـې وړانـدې کـړ. خـو مهمه دا ده چې اوسنی لاریون ولې سـتر نـه وو؟ دلتـه څـو خـبرې ډېرې مهمې دي:

لومړی دا چې تېر ځل قضیه د مظلومیت نه پـه دفـاع کـې نغښـتې وه، هلته دا تصور موجود وو چې که نن په دې مړو ونه ژاړو، ساندې ونه وایو او لاریون ونه کړو نو سبا به بیا دا تکرار اختطافونه او تکرار وژنې د شیعه او هزاره ټول انسان ژوند لـه ګـواښ سره مـخ کـړي او دې ګډ ګواښ دوی پـه یـو شریـک دریـځ سره راټـول کـړل. دا ځـل دوی نور قامونه په مظلومیت کـې واقـع کـړل، همدلتـه وه چـې دې تقابل ګډون ټکنی کړ.

دویمه خبره دا ده چې د ټوټاپ پـروژې پـه اړه د ارګ سـپیناوی نـه یـوازې پـر وخـت او مسلسـل وو بلکـه پـر منطـق هـم ولاړ وو، لـه تخنیکي او فني اړخه د قضیې تحلیل او ګټې او زیانونه خلکو سره شریکول د خلکو عامه پوهاوی لوړ کړ او په مقابل کې له لاریونیانو سره منطق پرته له دې چې قومي بنسټ ولري کوم قوي تحلیل یې نه درلود.

له لاریونونو څه زده کوو؟

لاریونونه په ولس کې د خپلو غوښتنو مدني شعور تـه وده ورکـوي، ولس د زور او خشونت فرهنګ په څېړو وهي او په یـوه غـږ خپلـې غوښتنې مدني کوي، دا پـر حکومـت د ولـس یـو سـولیز فشـار دی چې اړ کوي یې په مسایلو کې د ولس غږ واوري.

د افغانستان په څېر هېـواد کـې لـه لاریـون سره حکـومتي برخـورد جـلا فرهنـګ لـري، دلتـه یـو وخـت لاریونونـه د مشـینګنو پـه ډزو ترړېدل، دلته لا معترضه ناهید لا هم له ویرنو نه ده کـراره شـوې او لا هم د هرات او چنـداول پـاڅونونو، حکـومتي بـې رحمـه سرکـوب کیسې د تاریخ زړه څیروي. نو ځکه له لاریونونو سره په تعامل کې د حکومت برخورد دا راښـایي چـې څنګـه حکومـت د خپلـو خلکـو اعتراض خوندي کوي؟ څنګه یـې امنیـت ټینګـوي؟ او څنګـه پـرې فیرونه نه کوي او زیاتې پرې نه کوي، او دا د زغـم او منلـو فرهنـګ په بډاینه کې یو لوی مقام دی.

افزایش جرایم جنایی؛ عوامل و راه‌حل‌ها

مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

پدیدهٔ جرم یکی از مشکلات اجتماعی تمام جوامع بشری است، اما در افغانستان شنیع‌ترین و دلخراش‌ترین انواع آن به وقوع می‌پیوندد. رقم حوادث جرایم جنایی شنیع در افغانستان، روز به روز در حال افزایش است و باعث نگرانی جدی مردم گردیده است.

به تازه‌گی اباسین پسر ۱۴ ساله‌ی افغان که حدود پنج ماه پیش از ساحهٔ کارتهٔ نو شهر کابل ربوده شده بود، پس از شکنجه و قطع یک انگشت‌اش، به شکل بی‌رحمانه از سوی آدم‌ربایان به قتل رسیده و جسدش در اطراف کابل پیدا شد. حادثهٔ اختطاف و قتل اباسین واکنش‌های تندی را در پی داشت و شورای ملی افغانستان، مردم عام و فعالان نهادهای مدنی خواهان تطبیق عدالت در این قضیه شدند. ریاست جمهوری افغانستان نیز با نشر اعلامیه‌ای گفته است که «رئیس جمهور از وقوع این حادثه سخت متاثر شده و به ارگان‌های مربوطهٔ دولتی به هدف تامین عدالت بالای عاملان این رویداد، دستور داده است».

موضوع اختطاف و قتل بی‌رحمانهٔ این نوجوان به دست ربایندگان نخستین حادثه نبوده، بلکه در گذشته نیز بارها شاهد چنین حوادث دلخراش در نقاط مختلف کشور بودیم. سوال اینجاست که چه عواملی باعث افزایش جرایم شنیع در کشور شده است؟ و حکومت چه راه‌کارهایی را روی دست گیرد تا وقوع این جرایم را به حد اقل آن برساند؟

میزان جرایم در افغانستان ۱۳۸۷-۱۳۹۴

جرم پدیده‌ای است که نمی‌توان آنرا به کلی از یک جامعه محو کرد، ولی می‌توان اقداماتی را در نظر گرفت که وقوع آنرا به حد اقل رساند.

به صورت کلی از سال ۱۳۸۷ به این‌سو میزان جرایم ثبت شدهٔ جنایی در افغانستان سیر صعودی داشته است. در سال ۱۳۸۷ تعداد جرایم جمعاً به ٦٧٨٦ مورد می‌رسید، ولی این رقم تنها در سه ربع اول سال ۱۳۹۴ به ۱۴٦۱۹ افزایش یافته است. هرچند در برخی این سال‌ها تعداد جرایم نسبت به یک سال قبلش کاهش اندکی نیز داشت (به گونهٔ مثال در سال ۱۳۸۹ از ۷۰۱۰ مورد، در سال ۱۳۹۰ به ٦۹۲۹ مورد کاهش یافت) اما در برخی سال‌های دیگر این رقم به گونهٔ بی‌پیشنه‌ی افزایش یافت. به عنوان مثال، در سال ۱۳۹۲ تعداد مجموعی جرایم مختلف در کشور به ۲۷۱۲۲ مورد رسید.

آمار ثبت ناشدهٔ جرایم

آماری را که در اینجا ذکر کردیم، آمار جرایمی است که گزارش داده شده و توسط نهادهای مربوطه ثبت گردیده است، در حالیکه آمار و ارقام اصلی جرایم در کشور خیلی بیشتر از این می‌باشد. بربنیاد یک سروی ایشیا فاوندیشن، گزارش‌های ٪۴۹ از جرایم به مراجع دولتی نرسیده و به همین دلیل ثبت نیز نشده‌اند.

فساد در ادارات، عدم بازداشت مجرمین و در صورت بازداشت دوباره رها شدن آنها، حاکمیت ضعیف حکومت در مناطق دور دست، پروسیجر طولانی اداری در هنگام گزارش دادن جرایم، بی‌باوری بالای حکومت، دخالت زورمندان در این‌گونه مسائل را می‌توان از عواملی دانست که باعث ثبت نشدن بخش بزرگی از جرایم جنایی در کشور گردیده‌اند.

افزایش جنایت‌های شنیع

باوجود کاهش در میزان مجموعی جرایم، تعداد جرایم شنیعی چون قتل و قطاع الطریقی افزایش یافته است. چنانچه در سال ۱۳۹۰ رقم قتل‌ها بیشتر از سال‌های دیگر بود، اما ما شاهد کاهش نسبی جرایم در کشور بودیم. همچنان با مطالعهٔ ارقام مجموعی جرایم در سه ربع اول سال‌های ۱۳۹۳ و ۱۳۹۴، درمی‌یابیم که در سه ربع اول سال ۱۳۹۴، مجموع جرایم نسبت به سه ربع اول در سال ۱۳۹۳، کمتر می‌باشد، اما ارقام اختطاف، قتل و جرج نسبت به سال گذشته افزایش یافته است.

اگر به ارقام قتل در چند سال گذشته نگاه کنیم در می‌یابیم که به استثنای سال ۱۳۸۹ این ارقام همه‌ساله رو به افزایش بوده است. مثلاً در سال ۱۳۸۷، ۱۰۷۵ مورد قتل صورت گرفته در حالیکه تنها در سه ربع سال‌های ۱۳۹۳ و ۱۳۹۴ بیشتر از ۱٦۰۰ حادثهٔ قتل در کشور صورت گرفته است.

از سوی دیگر، محاسبات غیر رسمی نیز میزان مجموعی جرایم افزایش چشمگیری را نشان می‌دهد. تنها در شهر کابل در جریان سه هفتهٔ اول ماه دلو ۳۱۸ حادثهٔ جنایی رخ داده است. و همه‌روزه ده‌ها واقعهٔ جرمی و جنایی تنها در شهرهای بزرگ کشور روی می‌دهد.

افزایش جرایم چون اختطاف، برعلاوهٔ تأثیرات سوء بر روان و زنده‌گی مردم، بر اقتصاد کشور نیز تأثیرات بدی داشته است. اختطاف تاجران و افراد خانواده‌های شان از جاهای امن شهرهای بزرگ کشور، باعث شده تا تاجران و سرمایه‌گذاران از فعالیت‌های اقتصادی در کشور دلسرد شوند.

بعد از سال ۲۰۱۴ عدهٔ زیادی از سرمایه‌داران به دلیل نگرانی از ثبات و امنیت در کشور سرمایه‌های خویش را از افغانستان خارج نمودند. جرایم، اختطاف و سرقت از جمله جرایمی اند که بیشتر قربانی آن‌ها تاجران و افراد سرمایه‌دار می‌باشند که این وضعیت آن‌ها را از کار و سرمایه‌گذاری در افغانستان مأیوس ساخته و باعث فرار بقیه سرمایه‌ها از کشور می‌گردد.

عوامل افزایش جرایم

بر اساس یک سروی، از سال ۲۰۰۹ الی ۲۰۱۴ به طور اوسط ٪۲۰,۱۷ مردم بی‌کاری، ٪۱۳,۱۷ فساد اداری، ٪۷,٦۷ بی‌سوادی، و ٪۷,۷ مردم، فقر را از بزرگترین عوامل جرایم به شمار آورده‌اند. در اینجا عوامل عمدهٔ جرایم را چنین برمی‌شماریم:

۱. فساد اداری و عدم تطبیق قانون: بربنیاد گزارش سالانهٔ سازمان بین‌المللی شفافیت (Transparency International)، افغانستان در سال ۲۰۱۵ دومین کشور فاسد جهان شناخته شد و بر اساس سروی دیدبان شفافیت افغانستان در سال ۲۰۱۴، ارگان‌های عدلی و قضایی ٪۳۴ و پولیس ٪۲٦ فاسدترین ارگان‌ها شناخته شده بودند. بنابراین، فساد در این ارگان‌ها نقش برازنده‌ی در افزایش جرایم جنایی دارد، چون مجرمین توسط پولیس بازداشت و توسط ارگان‌های عدلی و قضایی مورد پیگرد قانونی قرار می‌گیرند. از سوی دیگر ضعف و نامسلکی بودن نیروهای امنیتی باعث شده تا نه تنها در جلوگیری چنین رویدادها ناکام بمانند، بلکه در بعضی مواقع در ارتکاب چنین جنایات همکار نیز باشند.

۲. بی‌کاری: سطح بی‌کاری در افغانستان به خصوص در سال‌های اخیر به اوج خود رسیده است و بیشتر جوانان بی‌کار برای کسب درآمد از راه‌های نامشروع، دست به چنین وحشت‌ها و جنایات می‌زنند.

۳. زورمندان و سیاسیون: شماری از زورمندان و سیاسیون به دلیل منافع شخصی شان از مجرمین در برابر قانون دفاع می‌کنند. همین دلیل است که در روز روشن و در مناطق امن شهرهای بزرگ کشور با استفاده از موترهای شیشه‌سیاه، جرایمی چون قتل و اختطاف به وقوع می‌پیوندند.

۴.تهاجم فرهنگی: اگر به گراف جرایمی چون قتل، تجاوز جنسی و جرایم همانند آن توجه کنیم، شاهد افزایش همه‌سالهٔ این موارد هستیم. یکی از مهمترین عامل افزایش این موارد، نشر سریال‌ها و برنامه‌های مبتذل، غیر اخلاقی و خلاف فرهنگ و دین مردم افغانستان می‌باشد. این‌گونه نشرات نیز از عوامل عمدهٔ افزایش جرایم در کشور شمرده می‌شود. در حالیکه یکی از راه‌هایی که در کاهش جرایم جنایی در جامعه کمک می‌کند، جلوگیری از نشرات مبتذل در رسانه‌ها و بجای آن نشر برنامه‌های مفید و آگاهی دهنده می‌باشد.

۵. حمل سلاح غیرقانونی و افراد مسلح غیرمسئول: در جریان جنگ‌های چند دههٔ گذشته، در هر گوشه و کنار کشور سلاح توزیع گردید. گرچند از سال ۲۰۰۵ به این‌سو تلاش‌هایی برای جمع‌آوری این سلاح‌ها نیز صورت گرفت، ولی باز هم سلاح بدون مجوز در همه مناطق کشور هنوز هم وجود دارد. به گونهٔ مثال چندی پیش در نتیجهٔ یک درگیری افراد مسلح غیرمسؤول در یک محفل عروسی در بغلان ۲۲ تن کشته شدند.

راه‌حل‌ها برای کاهش جرایم

- حکومت باید اقدامات و راه‌کارهای جدی و موثر برای جلوگیری از فساد اداری در ارگان‌های عدلی و قضایی و نیروهای امنیتی روی دست گیرد، چون فساد در این ارگان‌ها از عوامل عمدهٔ افزایش جرایم در کشور می‌باشد.
- ارگان‌های ضد-جرایم تقویت شوند و در کنار آموزش کارمندان این ارگان‌ها، معاشات آن‌ها نیز افزایش یابد تا میزان فساد اداری در این ارگان‌ها کاهش یابد.
- اقدامات جدی و عملی جهت اشتغال‌زایی روی دست گرفته شود، تا برای جوانانی که در اثر بی‌کاری دست به چنین وحشت‌ها می‌زنند، مصروفیت‌هایی ایجاد شوند.
- موقف حکومت و ارگان‌های عدلی و قضایی در برابر مجرمین جنایی سخت‌تر و محاکم علنی برگزار گردد تا از لحاظ شعوری تمایل مجرمین به ارتکاب جرم از بین برود و یا حد اقل کم شود.
- از نشرات مبتذل و مغایر با آموزه‌های دینی، قوانین و فرهنگ کشور در رسانه‌ها جلوگیری گردد.

د بې باورۍ په فضا کې
د څلور اړخیزو غونډو پنځمه ناسته!

نعمت الله عزیزی

د افغانستان، پاکستان، امریکا او چین د څلور اړخیزو غونډو پنځمه ناسته تېره چهارشنبه په اسلام آباد کې ترسره شوه چې په اسلام آباد کې افغان سفیر حضرت عمر زاخیلوال، د پاکستان د بهرنیو چارو مرستیال وزیر اعزاز احمد چودری، د امریکا ځانګړی استازي رچارډ اولسن او د افغانستان او پاکستان له لپاره د چین ځانګړي استازي و دینګ ژیون پکې ګډون کړی ؤ.سره له دې چې د دې ناستې هدف د تېرو څلور ناستو ارزونه ښودل شوې ده، خو د نظر خاوندان باور لري چې پاکستان په دې سره هڅه کوي په څلور اړخیزو غونډو باندې یو ځل بیا د افغان حکومت باور را منځته کړي.

وروسته له هغې چې د ۲۰۱۵زیږدیز کال په دسمبر کې "د آسیا زړه کنفرانس" په څنډه کې د افغانستان، پاکستان، چین او امریکا ګډ څلور اړخیز ګروپ په افغانستان کې د سولې د ټینګښت لپاره را منځته شو، انګېرنې دا وې چې د نړۍ د دوه قدرتمندو هېوادونو په شتون کې به پاکستان اړ شي چې د افغان حکومت وسله‌وال مخالفین د سولې میز ته راکش کړي. له بل لوري ځینو کارپوهانو له لومړي سره د داسې غونډو جوړیدل پاکستان ته امتیاز ورکول بلل او دا یې د افغانستان نه، بلکې د پاکستان د ګټو خوندي کوونکې غونډې بللې.

د څلور اړخیزو غونډو په څلورمه ناسته چې په کابل کې ترسره شوه، پاکستان ژمنه کړې‌وه چې د افغان حکومت وسله‌وال مخالفین ـچې هغه هېواد یې پر ملاتړ تورن دی ـ له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته حاضروي او کومې ډلې چې خبرو اترو ته نه حاضریږي پر وړاندې به یې د پوځي زور نه کار اخیستل کېږي. خو وروسته له هغه چې د افغان حکومت وسله‌والو مخالفینو (طالبانو) د سولې له خبرو اترو انکار وکړ. افغان حکومت له پاکستان څخه غوښتنه وکړه چې خپلې ژمنې عملي کړي او د هغه ډلو پر وړاندې چې سولې ته نه حاضریږي، له پوځي ځواک نه کار واخلي. خو پاکستاني چارواکو د افغان حکومت غوښتنه رد کړه او څرګنده یې کړه چې نه‌شي کولای په یو وخت د طالبانو پر وړاندې هم د سولې خبرې پر مخ یوسې او هم یې پر وړاندې پوځي زور وکاروي.

د پاکستان د ژمنو نه عملي کول او په کابل کې د (رجال برجسته امنیتي کارکوونکو پر مرکز) تر خونړي برید وروسته د کابل اسلام آباد اړیکې لا ډېرې خړې پړې شوې او ولسمشر محمد اشرف غني د ملي شورای ګډې غونډې ته په وینا کې د پاکستان نه د سولې په برخه کې نا هیلي څرګنده کړه او هغه هېواد یې د خپل ژمنو پر نه عملي کولو تورن کړ.

څلور اړخیزې غونډې چې د افغانستان او پاکستان د بهرنیو چارو وزیرانو، مرستیال وزیرانو او د چین او امریکا -د افغانستان او پاکستان لپاره د ځانګړو استازو- تر منځ جوړیدلې، دا ځل چې پنځمه ناسته یې تېره چهارشنبه په اسلام آباد کې ترسره شوه د افغانستان له خوا پکې په اسلام آباد کې افغان سفیر حضرت عمر زاخیلوال، د پاکستان د بهرنیو چارو مرستیال وزیر اعزاز احمد چودری، د امریکا ځانګړی استازي رچارد اولسن او د افغانستان او پاکستان له لپاره د چین ځانګړي استازي و دینګ ژیون ګډون کړی ؤ. د ملي یووالي حکومت مخکې ویلي ؤ چې تر هغه به په څلور اړخیزو غونډو کې ګډون ونه کړي چې پاکستان خپلې ژمنې عملي کړي نه وي او یا هم د طالب وسله‌والو سره مخامخ خبرې تر سره نه‌شي. د افغانستان له لوري په پنځمه څلور اړخیزه ناسته کې د سفیر په کچه د حضرت عمر زاخیلوال ګډون د افغان حکومت هغه بې باورۍ او نا رضایتی تاییدوي چې د پاکستان پر نیت او د څلور اړخیزو ناستو پر دوام یې لري. له بلې خوا د سولې عالي شورای مرستیال مولوی عبدالخبیر اوچقون هم رسنیو ته په خبرو کې ویلي دي چې د څلور اړخیزو غونډو پنځمې ناستې کومه پایله نه لرله او د هغه په باور پنځمه ناسته یوازې د افغان حکومت د رضایت د حاصلو په موخه ترسره شوې ده، ځکه د نوموړي په اند اوس هم افغان حکومت ته د پاکستان سیاستونه د باور وړ نه دي.

د ولسمشر د ویاند مرستیال دواخان مینه پال هم څلور اړخیزې ناستې بې پایلې ګڼي او ویلي یې دي چې په پنځمه ناسته کې هم د افغانستان استازي څو ځله د پاکستان د ژمنو پر عملي کېدو باندې ټېنګار کړی دی او له امریکا او چین نه یې غوښتنه کړې چې پر پاکستان فشار راوړي تر څو خپلې ژمنې عملي کړي. بل پلو د څلور اړخیزو غونډو په پنځمه ناسته کې پریکړه شوې چې دا ناستې او غونډې به دوام کوي، خو دا چې آیا په راتلونکې کې به د افغان سولې په هکله کومه پایله ولري او که به د تېر په څېر له کومې پایلې پرته دوام ومومي؟ هغه پوښتنه ده چې وخت به یې ځواب کړي، خو تر ډېره لیدل کېږي چې افغان حکومت اوس اوس پر بین الافغاني خبرو باندې ټېنګار کوي او په وروستیو کې یې له اسلامي حزب سره د نږدې دوه میاشتو خبرو اترو پایلو ته په کتو سره بین الافغانی خبرو ته خوشبین دی.

استقبال از ماه رمضان

با روزه گرفتن در ماه شعبان

مستحب است که اکثر روزهای ماه شعبان را روزه بود، چنانکه ازعایشه رضی الله عنها روایت است:«ما رأیت رسول الله صلی الله علیه وسلم استکمل صیام شهر قط إلا شهر رمضان، و ما رأیته فی شهر أکثر منه صیاما فی شعبان». متفق علیه

یعنی: «پیامبر صلی الله علیه وسلم را ندیدم که ماهی را کامل روزه بگیرد، مگر ماه رمضان و او را ندیدم که در هیچ یک از ماهها به اندازه ماه شعبان روزه بگیرد».

اما با این وجود باید بدانیم که پیامبر صلی الله علیه وسلم در چند حدیث ما را از روزه گرفتن روزهای پایانی ماه شعبان (یوم الشک، یا یکی دو روز آخر و یا نصف آخر ماه شعبان) نهی کرده اند، مگر برای:

۱- کسانی که به روزه گرفتن عادت دارند، مثلا کسی که عادت دارد که اکثر دوشنبه و پنج شنبه ها روزه است، او می تواند همچنان به عادت خود ادامه دهد ولو آنکه در نصف دوم ماه شعبان هم باشد.

۲- برای کسی که نصف اول و دوم ماه شعبان را به هم وصل کند، مثلا او نصف اول را گهگاهی روزه بوده و حال او می تواند به همین روال نصف دوم را نیز روزه باشد.

از جمله این احادیث عبارتند از:

حدیثی که شیخین (بخاری و مسلم) از ابوهریره رضی الله عنه روایت کرده اند که او گفت:« قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لا تَقَدَّمُوا رَمَضَانَ بِصَوْمِ يَوْمٍ وَلا يَوْمَيْنِ إلا رَجُلٌ كَانَ يَصُومُ صَوْمًا فَلْيَصُمْهُ». بخاری (١٩١٤) و مسلم (١٠٨٢).

یعنی:«هیچکس از شما نباید یک یا دو روز قبل از رمضان، روزه بگیرد، مگر کسی که مقید به روزه گرفتن (بعنوان مثال، روزهای دوشنبه و پنجشنبه)، بوده است، چنین شخصی، روزه بگیرد».

و ابوداود و ترمذی و ابن ماجه نیز از ابوهریره رضی الله عنه روایت کرده اند که پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمودند: «إِذَا انْتَصَفَ شَعْبَانُ فَلا تَصُومُوا». أبو داود (٣٢٣٧) و ترمذی (٧٣٨) وابن ماجه (١٦٥١) و صححه ألبانی در صحیح ترمذی (٥٩٠).

یعنی: هرگاه ماه شعبان به نصف رسید، (دیگر) روزه نگیرید.

و باز ترمذی و نسائی از عمار بن یاسر رضی الله عنه روایت کرده اند که گفت:« مَنْ صَامَ الْيَوْمَ الَّذِي يَشُكُّ فِيهِ النَّاسُ فَقَدْ عَصَى أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ». ترمذی (٦٨٦) و نسائی (٢١٨٨).

یعنی: هرکس روزی را که مردم در (رمضان بودن آن) شک دارند روزه بگیرد، براستی که از ابا القاسم صلی الله علیه وسلم سرپیچی کرده است.

و یوم الشک روز سی ام شعبان است البته هرگاه که به سبب پوشیده بودن آسمان هلال ماه رمضان مشاهده نشود که در اینصورت ماه شعبان را سی روز کامل حساب می کنند.

و بر این اساس حکم روزه گرفتن نیمه دوم ماه شعبان بر دو قسم است:

اول: روزه گرفتن از روز شانزدهم تا بیست ونهم ماه شعبان مکروه است، مگر برای کسی که آنروزها موافق عادتش باشند.

دوم: روزه ی روز یوم الشک یا یک یا دو روز قبل از رمضان، حرام است مگر برای کسی که آنروزها موافق عادتش باشد.

اړیکې: habibi@eslahonline.net

گلبرگهای ادب

آسمان و زمین بر چه کسی نمی‌گریند؟

آسمان و زمین نمی‌گریند بر کسی که فاسد بود و فاسد کرد، نه، هرگز نمی‌گریند بر آن که گمراه بود و گمراه کرد، نه، هرگز گریه نمی‌کنند بر آنان که بندگان را خوار کردند و کشور را به فلاکت، بدبختی و تهی‌دستی انداختند و عزت مردم را به ذلت تبدیل نمودند. آسمان و زمین هرگز نخواهند گریست بر کسی که کشورش را فروخت و دینش را فدا کرد تا مردم را در مقابل خشم خدا، از خود خشنود کند، و تا سرورانش را راضی نماید، زیرا او پذیرفت که در برابرشان برده‌ای بی‌اختیار و نوکری مستمند باشد و کاری جزء شنیدن و پیروی کردن کورکورانه نداشته باشد و فقط مجری اوامر باشد. او خواست که خوار و مفلوک باشد. آسمان و زمین نمی‌گریند بر کسی که میلیاردها دلار ربود، در انتخابات تقلب کرد و پنجره‌ی آزادی را با قفل‌های آهنین بر روی ملت بست و در مقابل، درب زندان‌ها و بازداشتگاه‌ها را به روی آزادگان و ارجمندان گشود. هر کس لب تر کرد، به چاه نابودی و شکنجه و بدبختی کشانده شد. هرگز آسمان و زمین بر چنین جنایتکارانی نمی‌گریند، زیرا شایستگی یک قطره اشک هم ندارند. زمین خدا بر جنایات ایشان بر ضد دین، کشور و حتی عموم بشریت گواهی خواهد داد.

خواښې او نګور د یو بل په وړاندې که د یو بل په خدمت کې؟

د رسول الله صلی الله علیه وسلم ګرانې لور بي بي فاطمه (رضی الله تعالی عنها) د خپلې خواښې فاطمه بنت اسد (رضی الله تعالی عنها) داسې خدمت کاوه چې په دنیا کې یې مثال پرېښود او ټولو مسلمانو ښځو ته یې دا وښوده چې د خواښې او نګور تر منځ اړیکې څه ډول وي.

فاطمه بنت اسد رضی الله تعالی عنها د علی کرم الله وجهه محترمه مور او د جنتي بي بي فاطمه الزهراء رضی الله تعالی عنها خواښې وه، کله به چې بي بي فاطمه الزهرا رضی الله تعالی عنها د کور له کارونو وزګاره شوه نو د خپلې خواښې اړتیاوو ته به یې پاملرنه کوله، هغه به یې ډېر کار ته نه پرېښوده او د هغې د آرامتیا هڅه یې کوله، جامې به یې ورته وینځلې، ډوډۍ یې ورته تیاروله، د هغې بستر به یې هواروه او ټولولو او په کارونو کې به یې هم ورسره مرسته کوله.

د هغې خواښې د خپلې نګور بي بي فاطمه الزهرا رضی الله تعالی عنها په هکله داسې وایي: څو مره خدمت چې بي بي فاطمه الزهرا رضی الله تعالی عنها زما کړی دومره به شاید هېڅ نګور د خپلې خواښې نه وی کړی. زما نګور د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم لور ده، د مینې او محبت نه ډکه نمونه ده، د حد نه زیاته خدمت ګاره ده او ما د خپلې سکه مور په شان ګڼې.

از هر ۷ کودک ۲ تا ۸ ساله آمریکایی، یکی دچار مشکلات روحی است

به نقل از سایت«upi» ، در سال ۲۰۱۲- ۲۰۱۱ یک تحقیق ملی درباره سلامت کودکان در آمریکا انجام شد و محققان اطلاعاتی که توسط پدرها و مادرها داده شده بود را تحلیل کردند و دنبال مشکلات زبانی، یادگیری، تمرکز، بیش فعالی، اوتیسم، اضطراب و غیره گشتند.

جنیفر کامینسکی، رئیس بخش مطالعات رشد کودکان در مرکز کنترول و پیشگیری بیماری‌ها در آمریکا در این باره گفت:«با توجه به تعداد کودکانی که تحت تأثیر این مشکلات هستند، باید به این مساله توجه شود»

محققان دریافتند، کودکانی که دچار اختلالات روحی و رفتاری هستند، کمتر از بقیه به مراقبت‌های پزشکی مستمر، جامع و روحیه بخش دسترسی دارند. هم چنین، وجود مشکلات روحی در بین والدین و مشکل در نگهداری از کودک هم در بین کودکانی با اختلالات روحی، رفتاری و رشدی بسیار شایع بود.

ایالت‌های مختلف نیز اختلاف زیادی در تعداد اختلالات داشتند. کالیفرنیا با ۱۰٫۶ درصد کمترین میزان را در بین کودکان داشت و آرکانزاس و کنتاکی با تقریباً ۲ برابر آن، بیشترین را داشتند.

علاوه بر این، بچه‌هایی که در فقر زندگی می‌کردند یا در خانه‌هایی بودند که در آن‌ها انگلیسی حرف زده نمی‌شد، بیش از بقیه در معرض مشکل قرار داشتند.

این بررسی با در نظر گرفتن بیش از ۳۵ هزار کودک انجام شده است.

که وخت تنظیم کړې نو....

۱ .یو ساعت پلان شوی کار، د لسو ساعتونو عملي او بې پلانه کار سره برابر دی.

۲ .یو کارپوه انسان د عادي کارګر په پرتله یو کار په کم وخت کې سرته رسوي.

۳ .د نوي عادت زده کړه لږ ترلږه ۱۵ ورځې غواړي تر څو کاري بڼه غوره کړي.

٤ .هر څه تر ټاکلي وخت پورې تړاو لري، که چېرې موږ یو ټولی خلکو ته د یو معین کار د ترسره کولو لپاره دوه ساعته ورکړو، او بل ټولي خلکو ته د ورته کار لپاره څلور ساعته په نظرکې ونیسو، و به ګورو چې دواړه ټولي د خپل ټاکلي وخت سره سم ورسپارل شوې یو شان دنده سرته رسوي.

۵ .د وخت اداره او تنظیم په دې معنا نه دی، چې موږ کارونه په ډېره چټکۍ سره ترسره کړو، په داسې حال کې چې د کار سهي او غلط په کې څرګند نه وي، بلکې د اداري غوښتنه دا ده تر څو کارونه په سمه توګه د ټاکلو اړتیاوو او موخو سره په تیزۍ سره اداء شي. (ژباړه: خلیل الرحمن حنیف).

چلوونکی: عبدالرزاق حبیبي

ومعلوماتي

دیگر کسی کمک نخواهد کرد

مردی، اسپ اصیل و بسیار زیبایی داشت که توجه هر بیننده‌ای را به خود جلب می‌کرد. همه آرزوی تملک آن را داشتند. بادیه‌نشین ثروتمندی پیشنهاد کرد که اسپ را با دو شتر معاوضه کند، اما مرد موافقت نکرد. حتی حاضر نبود اسپ خود را با تمام شترهای مرد بادیه‌نشین تعویض کند.

بادیه‌نشین با خود فکر کرد: حالا که او حاضر نیست اسپ خود را با تمام دارایی من معاوضه کند، باید به فکر حیله‌ای باشم.

روزی خود را به شکل یک گدا درآورد و در حالی که تظاهر به بیماری می‌کرد، در حاشیه جاده‌ای دراز کشید.

او می‌دانست که مرد با اسپ خود از آنجا عبور می‌کند. همین اتفاق هم افتاد...

مرد با دیدن آن گدای رنجور، سرشار از همدردی، از اسپ خود پیاده شد به طرف مرد بیمار و فقیر رفت و پیشنهاد کرد که او را نزدیک پزشک ببرد.

مرد گدا ناله‌کنان جواب داد: من فقیرتر از آن هستم که بتوانم راه بروم. روزهاست که چیزی نخورده‌ام و نمی‌توانم از جا بلند شوم. دیگر قدرت ندارم.

مرد به او کمک کرد که سوار اسپ شود. به محض اینکه مرد گدا روی زین نشست، پاهای خود را به پهلوهای اسپ زد و به سرعت دور شد.

مرد متوجه شد که گول بادیه‌نشین را خورده است. فریاد زد: صبر کن! می‌خواهم چیزی به تو بگویم.

بادیه‌نشین که کنجکاو شده بود، کمی دورتر ایستاد.

مرد گفت: تو اسپ مرا دزدیدی. دیگر کاری از دست من برنمی‌آید، اما فقط کمی وجدان داشته باش و یک خواهش مرا برآورده کن.

"برای هیچ‌کس تعریف نکن که چگونه مرا گول زدی"...

بادیه‌نشین تمسخرکنان فریاد زد: چرا باید این کار را انجام دهم؟!

مرد گفت: چون ممکن است، زمانی بیمار درمانده‌ای کنار جاده‌ای افتاده باشد. اگر همه این جریان را بشنوند، دیگر کسی به او کمک نخواهد کرد.

بادیه‌نشین شرمنده شد. بازگشت و بدون اینکه حرفی بزند ، اسپ اصیل را به صاحب واقعی آن پس داد.

آیا تو واقعا یک شوهر مسلمان هستی؟

درجامعهء ا سلامی پدر تاهنگامی که دخترش شادی نشده باشد، در برابر وی مسئوولیت دارد، و بعد از شادی مسئوولیت را به شوهر می سپارد، واز جانب دیگر، بازهم پدر گوشه گیری نمی نماید، بلکی تا آخرین رمق حیات، مسئوولیت پدرانهء خویش را احساس می نماید.برادر نیز در برابر خواهر خویش احساس مسئوولیت می نماید و پسر خدمت گزار مادر می باشد. به این گونه یك زن مسلمان در پهلوی خود افراد زیادی را می یابد که هرنوع تکلیف ومشقت را باوی متحمل می شوند و در برابر وی احساس مسئوولیت می نمایند.

به طور عموم شوهر مسلمان، خانم خود را ملکهء خانه ساخته، برای وی عزت می بخشد، اختیارات عام و تام خانه را به وی می سپارد، و بدون آنکه زن بیچاره با بدن برهنه ویا نیم برهنه برای مردان برقصد، وزینت مجلس آنها شود، عزت، وقار وعفت ویرا دیگران به یغما ببرند، زندگی خود را در فضای اطمینان وسعادت می گذراند.

که ستاسو ماشوم داسې کار وکړي بیا...

یو ماشوم په ښوونځي کې له ښوونکي څخه د سهار د لمانځه په اړه ډېرې زړه راښکوونکې خبرې واورېدې او د سهار د لمانځه فضیلت پرې ډېره اغېزه وکړه، له ځان سره یې اراده وکړه، چې خامخا به د سهار لمانځه ته ځي خو څنګه؟ پلار او یا د کورنۍ بل غړی یې لمانځه ته نه ځي او یواځې تلی نه شي او خپله به سهار څنګه را پاڅي؟ نو د همدې لپاره یې لومړی شپه په ناسته وکړه او چې د مانځه وخت شو نو د دروازې ترڅنګ ودرېد، بهر د پښو آواز ؤ چې ګوري یو سپین ږیری جومات ته روان دی، د هغه پسې خاموشه روان شو او جومات ته لاړ، لمونځ یې وکړ، بله ورځ د مؤذن په آذان راپاڅېد او دې سلسلې همداسې دوام وکړ، تر دې چې دا سپین ږیری وفات شو، ماشوم یې په وفات ډېر سخت ژړل او هېڅ نه آرام کېده، بالآخره یې پلار ترې پوښتنه وکړه، چې ولې ژاړې؟ هغه ورته وویل هغه ډېر ښه مونځ ګزار ؤ، نو پلار یې وویل، چې آیا یواځې همدې ته ژاړې؟ هغه وویل: نه پلاره، ژاړم دې ته چې ته ولې لمونځ نه کوې، لکه څنګه، چې په جومات کې سهار نور خلک لمونځ کوي؟ پلار یې وپوښتل ته څه پوهېږې، چې هلته ډېر خلک لمونځ کوي؟ زوی یې ورته کیسه وکړه او پلار یې د کیسې په اورېدو سخت اغېزمن شو، له هماغې ورځې وروسته یې د سهار د جمعې لمونځ پرېنښود.

آیا ته خو به له دې کسانو نه یې؟

نن لویدیځ هڅې کوي ترڅو داسې شخصیتونه وروزي چې د لویدیځ فرهنګ یې منلی وي او پلې کولو ته یې چمتو وي او وروسته بیا د فکري او فرهنګي رهبرۍ بار د هغوی په اوږو باندې ږدي.

موږ وینو چې ځینې خلك په بې خبرۍ سره ګام په ګام د لویدیځ په پلو روان دي او د هغوی نه ملاتړ کوي او اسلام یې هم څنګ ته ایښی دی.

د لویدیځ یوه بله فتنه د سیکولریزم نظریه ده چې له مخې یې ژوند په دوو برخو ویشي او دین ته په دنیوي چارو کې واک نه ورکوي.

مسیحیت د انسان د ژوند ویشل په دوه ټوټو باندې د الله جل جلاله سره مني. په انجیل کې راغلي دي (هغه څه چې په الله جل جلاله پورې اړه لري هغه ته یې پرېږدئ) خو اسلام دا نظریه نه مني.

الله جل جلاله فرمائي:

افتومنون ببعض الکتاب و تکفرون ببعض (سورة البقره: ۸۵)

آیا د کتاب په یوې برخې باندې ایمان راوړئ او بله برخه یې نه قبلوئ؟

دست کشورهای همسایه در پروژه توتاپ!

عزیز احمد حنیف

این یک واقعیت مسلم است که از نیم قرن بدینسو کشورهای همسایه در تمام مسایل داخلی افغانستان نقش داشته و در میدان جنگ سرد میان رقبای بزرگ جهانی در کشور ما، حضور فعال دارند.

پروژه انتقال برق ۵۰۰ میگاوات از کشور ترکمنستان با وجود آنکه یک پروژه زیربنایی برای درازمدت در افغانستان به حساب نمی رود، اما زمینه را برای رفتن به سوی خود کفایی و زیرساختارهای اقتصادی در نقاط مختلف کشور در آینده هموار می سازد؛ مانند: استخراج معادن طبیعی گرانقیمت از دل کوه ها، رشد سیستم کشاورزی، انکشاف صنعت در عرصه های مختلف، فعال ساختن شرکت های تولیدی متنوع، ایجاد دستگاه های تصفیه نفت و گاز و مسایل دیگر که همه به انرژی قوی نیاز دارد.

تمام کشورهای بیرونی مداخله گر در قضیه افغانستان بدین باور اند که خود کفایی اقتصادی با استفاده از پروژه هایی مانند توتاپ، استقلالیت سیاسی این کشور را به دنبال دارد که در آن صورت زمینه حضور درازمدت قدرت های رقیب در افغانستان تهدید خواهد شد.

اگر ما به شریان های عایداتی کشور نگاهی بیاندازیم، چندین سال است که عواید گمرکات کشور، میان کارمندان و مقامات دولتی و زورمندان محلی در ساحات مختلف کشور، قسمت می شود و هیچ برنامه یی مبنی بر جلوگیری از آن وجود ندارد؛ همانطور برای تشخیص سطح مالیات بزرگ و کوچک وضع شده بر شرکت های تولیدی و تجارتی و جمع آوری شفاف آن، هیچ میکانیزمی وجود ندارد، جز اینکه بخشی از آن به رشوت مبدل می شود، قسمتی هم به جیب مالکین شرکت ها و یک بخش اندکی به خزانه ی دولت انتقال می کند؛ عین شکل، معادن طبیعی افغانستان سالهاست که از سوی زورمندان محلی به گونه‌ی غیر فنی استخراج شده و به کشورهای همسایه قاچاق می شود و هیچ برنامه‌یی از سوی دولت برای استخراج فنی و قطع دست زورمندان، در زمینه وجود ندارد.

گفته می شود که نظامیان خارجی در برخی ساحات افغانستان به دور از چشم مردم و دولت به یک سلسله پژوهش های زیرزمینی دست می زنند و سنگ های قیمتی، آثار عتیقه، یورانیم و برخی مواد خام دیگر را که تا حال برای مردم و دولت افغانستان ناشناخته است، استخراج نموده و به خارج انتقال می دهند.

بنا بر این، تمام کشورهای ذیدخل در مسایل افغانستان بدین نظر متفق اند که از راه های نفاق افکنی قومی، سمتی و زبانی و وسایل و ابزار دیگر، هیچ گاه برای مردم افغانستان فرصت ندهند تا وحدت ملی واقعی در این کشور شکل بگیرد و افغانستان دارای هویت یگانه شود و بادرنظرداشت حفظ

ارزشهای فرهنگی اش، مطابق به معیارها و مقتضیات دنیای مدرن در فضای صلح و آرامی نفس بکشد و به پیش برود.

در خصوص پروژه انتقال ۵۰۰ میگاوات برق ترکمنستان باید گفت: ایران با درنظرداشت هزاران میگاوات برق اضافی، خیلی علاقه دارد که افغانستان چنین قراردادهای بزرگ را باید با آنکشور به امضاء برساند، که از یک طرف منافع اقتصادی خود را در منطقه دنبال نماید و از سوی دیگر سویچ منابع اقتصادی وابسته به برق در افغانستان به دست آن کشور باشد.

پاکستان هم از یک طرف دوست ندارد تا افغانستان به پای خود بایستد و از سوی دیگر فکر می کند امضای قرارداد بزرگ اقتصادی‌ای به سان توتاپ با کشورهای آسیای میانه، مقدمه‌ای برای سرمایه گزاری ها و انتقال کالاهای تجارتی به سطح میلیاردها دالر میان افغانستان و کشورهای آسیای میانه خواهد بود.

برخی از احزاب و رجال سیاسی افغانستان جمع برخی مقامات دولتی نظر به ارتباطات استراتیژیک و عمیقی که بر مبنای منافع شخصی و گروهی با کشورهای همسایه دارند، همواره بر سرنوشت مردم معامله کرده اند و کریدت گرفته اند، این بار نیز با فرارسیدن فصل پروژه انتقال برق ترکمنستان، گاو آنها چوچه داده است و چراغ شان با آب می سوزد.

بنا بر این، کارشناسان مسایل اقتصادی و سیاسی، حلقات و سازمان های مستقل و متعهد به خدا و وطن که دارای اهداف و برنامه برای آینده افغانستان اند، فعالان واقعی و با اندیشه جامعه مدنی، فرهنگیان، علماء، استادان و جوانان با احساس و روشنگر جامعه، به دور از هر نوع تبعیض و تعصب، در چنین موارد باید هر یک به سهم خویش، بر مبنای منافع ملی کشور ایستادگی نمایند و برای حلقات وابسته به بیرون فرصت ندهند تا آب را گل آلود کنند و ماهی بگیرند.

زلمي يادونه

ليکوال:رحيم الله حريفال

د طبيعت له ښکلا ګانو او ښايستونو سره مې له ماشومتوبه مينه درلوده چې لا هم دوام لري .

کله به مې چې د اوړي په شنه سهار کې د ويالې په سړو اوبو اودس وکړ، د مرغانو په خواره ترنم کې به د الله دربار ته په لمانځه ودرېدم .

کله به چې د غرمې اوږدې چوپتيا د فکرونو په ټال کې وزنګولم ، د مازديګرې سړې هوا به له ځان سره بلې دنيا ته يوړلم .

او کله به چې د کلي په سکنې ماښام کې خورو اذانونو هغه ورځ را ياده کړه چې هلته به نور د همدې آذانونو آوازونه نه اورم، دا به داسې ماښام وي چې د قبر په تازه خاوره به د باد ملايمې څپې لاس وهي او زه به د هديرې په وېرونکې چوپتيا کې په ابدي خوب ويده يم .

د رڼو ستورو په ننداره او د شپې په خوږه چوپتيا او خاموشۍ کې به د خوبونو ښاپيريو له ځان سره بوتللم .

اوس ، چې بې حسابه سرګردانيو د ژوند هر رنګ او خوند رانه هېر کړی دی .

بيا هم کله ناکله داسې شېبې راشي چې په زړه کې مې د زليتوب ويدې هيلې را ويښې کړي . د شمال يوه خوږه څپه مې د تېرو خاطرو له کاروان سره مل کړي.....

او زه هم له غمونو او انديښنو نه لرې ... له خپلو زليو آرمانونو سره د تېر عمر پر شاړه دښته قدم ووهم .

پخوانۍ هيلې او ارمانونه مې رانه خپه وي يوې خبرې ته مې هم غوږ نه ږدي.....

وايي چې څنګه دې نيمه خوا او نيمګړې پريښودو .

هو دوی څه خبر دي چې په ما څه تېر شوي دي، ما له خپل زړه سره څومره ناکام کړی دی او ما خپل زلمي يادونه او بې شمېره هيلې په څومره بې وسۍ او نا اميدۍ هېرې کړې دي .

د اسلامي ویښتابه سرلاری جمال!

(۲/۲)

ډاکټر وحیدالله مصلح

د سید مبارزه او معاصر اسلامي تحریکونه، یوه پرتله

معاصرو اسلامي حرکتونو په بېساري توګه د افغان سید جمال الدین له مبارزی اغیز اخیستی، دوی په خپل مینځ کې سره ډیرې مشترکې ځانګړنې او ټکي لري، د ساري په توګه له اسلامه ژوره پوهه، د مسلمانانو تر منځ اسلامي اتحاد یا پان اسلامیزم، دین له ګردونو پاکول، استعمار ضد مبارزه، او د اسلام تیر برم ته ورګرځیدل، خو ددې ټولو مشترکو ټکو سره تر څنګ څنګ داسې څه ځانګړنې هم شته چې د افغان سید او معاصرو اسلامي حرکتونو په ځانګړي توګه د اخوان المسلمون په څیر نړیوال اسلامي خوځښت تر مینځ د توپیرونو کرښې باسي، سره له دی چې امام حسن البنا د افغان سید په اړه وایي چې، زه د سید او شیخ محمد عبده اصلاحي – انقلابي لارې ته ادامه ورکوم، او زمونږ حرکت د هغوی د لاری جامع دی. خو بیا هم په لاندې توګه ځینې څرګند توپیرونه شته چې دوی پرې جلا جلا پیژندل کیدای شي:

الف- د اصلاح په تګلاره کې توپیر:

افغان سید خپله مبارزه د خلکو د قیادتونو او دولتونو له اصلاح پیل کړه، ولسي-کار ته یې پام نه ور اووښت، خپله افغان سید چې کله د عثماني خلافت په دربار کې د بند وروستی شپې ورځې تېرولی په خپلې دې کړنې یې افسوس کاوه، نوموړي په خپل وروستي لیک کې چې یو ایراني دوست ته یې لیکلی وو داسې وایي: (کاشکې کولای مې شوای خپله فلسفه، نظریات او افکار مې د خلکو اذهانو ته نقل کړی وای، تر څو د هغوی ککړو اذهانو هغه منلی وای، هو! په اشتباه سره په دې باور وم چې لومړی د پاچاهانو او واکمنانو په فکر او ذهن کې بدلون راولم، خو دهغوی ضمیرونه (وجدانونه) مړه وو او ذهنونه یې دشاړی او بې حاصله زمکې په څېر وو، ځکه هر تخم چې ما په هغې کې وکاره، حاصل یې ورنه کړ او که څه لږ غوندې حاصل یې وکړ نو هغه هم د عیاشو او ځان غوښتونکو دتو طیو او دسیسو له امله په سیند لاهو شو).

خو د اخوان المسلمین ډیر تاکیدد خلکو پر اصلاح دی، ولسي کار باندې ترکیز لري، دا د اخوان المسلمون دحرکت ډیره ستره ځانګړنه ده چې د مختلفو قشرونو خلک یې په حرکي کار کې داسې سره راټول کړي، چې د ژوند د سطحو له اختلاف سره سره یې فکر یو، مجاهده یوه، او لوری یو شوی، دلته له بزګره نیولې بیا تر یوه علمي څیړونکي هر څوک د فکري وحدت په درلودو سره د اسلامي حرکت لپاره خپله وړتیا په کار اچوي، همدا لامل دی چې د پراخو نړیوالو او داخلي ګوډاګي دولتونو د توطیو، شکنجو او ظلمونو د بې پایه سلسلو په پای کې بیا هم اخوان المسلمون د ولسي حرکت په توګه خپله بقا ساتلې.

ب- د تنظیمي کار توپیر:

افغان سید د خپلې مبارزې د بقا او دوام لپاره کوم تنظیم شاته پرې نه ښود، یوازې ځینې وګړي داسې وو چې د سید د شاګردانو په حیثیت سره یې د هغه مبارزې ته تر یو وخته دوام ورکړ، بیلګې په توګه شیخ محمد عبده او استاد رشید رضا د سید لارې ته تر یوه وخته کار وکړ، دځیړونکو له انده دوی هم د سید پر لاره لکه څنګه چې سید پرې تلو نه ولاړل، او له خپل فکر سره سم یې د لارې په اوږدو کې نوې نښې او منزلونه ووهل، ولې بیا هم د سید د فکر په ژوندي ساتلو کې یې ونډه ډیره تاریخي او جوته ده. خو امام حسن البناء د داسې یو حرکت بنسټ کیښود چې د هغه له شهادت وروسته لا تر دې دمه ژوندی او د مسلمانانو د ژوند په ټولو خواو کې یې نقش څرګند اوټاکونکی دی، دا داسې یو تنظیم دی چې په سلګونو او زرګونو بناء یې ټولنې ته وړاندې کړل، په عربي نړۍ کې د اخوان همزولي ډیر تنظیمونه د نړیوالو او سیمه ایزو بدلونونو له امله ورک او منحل شول، خو اخوان د سم او بنسټیز تنظیمي کار له امله نه یوازې خپله بقا وساتله بلکه د امت بقا ته یې په داسې مهال بنسټ وکړ چې د لویدیز او ختیز نیواکګرانو پرې د بې وارثه مال په توګه د خپلو وحشي-تاړاکونو له امله زړه نه سوزاوه، نن چې د اقصی او فلسطین د ناموس او ننګې جګړه د امت له لوی وجوده جلا په محاصره کې د اسلامي حل او ګټې په مهار کې له اسرایلو بیرته ګټل کیږي نو که امت پرې ویاړي خو اخوان ورته لږ ترلږه د همدې ویاړ سترواله ورکړی، حماس د اخوان د ځانګې په توګه په غزې کې اسراییلي غرور لکه شالیط بندي کړی، او د اقصی د تاریخي دعوې مقدمې ته یې د اسراییلي تپل شوې جګړې بنسټونه کمزوري او نري کړي.

ج- د تربیت د برنامې توپیر:

د افغان سید د اصلاح له ډیرو عمده وسایلو څخه مطبوعات، ویناوې او موعظې د یادونې وړ وې، لیکن د پرله پسې تربیت کومه منظمه برنامه ورسره موجوده نه وه، خو د اخوان له ډېرو عمده او متمایزو ځانګړنو څخه یو هم دوامداره تربیت دی، مطبوعات، ویناوې، موعظې او نور ټول وسایل د همدې موخې د ترلاسه کولو په لیار کې مصرفیږي، د اخوان همدغه تربیتي منظمه او پرله پسې برنامه ده چې ورته یې د دوام او بقا بنسټ جوړ کړی دی.

د افغان سید اصلاحیزې لاسته راوړنې

افغان سید به د خپلو سفرونو په جریان کې تل هڅه کوله چې د ملتونو او هیوادونو د حاکمو شرایطو د په پام کې نیولو سره ځانګړي اصلاحي برنامی په کار واچوي، د بیلګو په توګه ،هغه سره له دی چې د امیر شیر علي خان په بد نیت خبر وو، کله چې له هیواده وتلو نو د سمونو یو ډیر منظم پلان یې امیر ته پریښود. په هندوستان کې یې د انګلیس پر خلاف د ولسونو احساسات راو پارول او ملي غرور یې په څپو کړ، په ښوونیز نصاب کې یې د مثبت تغیر راوستلو هڅې وکړی، د لویدیز وهلي سر سید احمدخان سره یې د اصیل اسلام په ننګه ټکر وکړ. په ترکیه کې یې د اسلامي یووالي یاPan islam لپاره بې ساري هلې ځلې وکړی،په مصر کې یې د رسنیو او علماو له لاری عامه ویښتابه

رامینځته کړ، او په سوډان کې یې د جهاد او انقلاب د لارښود محمد احمد مهدي لارښوونه او ننګه وکړه.
دلته به هڅه وشي چې د بیلګو په توګه په دوه هیوادونو کې د نوموړي اصلاحي کړنې و څېړل شي:
افغانستان:
په ګران هیواد افغانستان کې لاندی لاسته راوړنی یا خو په نیغه او یا په غیرمستقیم ډول د افغان سید جمال الدین د اصلاحي هڅو او پلانونو مرهون دي:
الف- د شمس النهار جریده: افغان سید د خپل وخت ترټولو ستر مسلمان لیکوال وو، هغه د عامه رایی په جوړونی کې د ملي ورځپاڼو او جریدو پر نقش ټینګار درلود، په افغانستان کې تر ټولو لومړنی اخبار د "شمس النهار" په نوم خپور شو،(شمس النهار جریده چې د افغانستان د مطبوعاتو په تاریخ کې لومړنۍ پاتی شوې خپرونه ده د سید په ابتکار او وړاندیز چې دتبعید په وخت کې یې شیرعلي خان ته کړی په ۱۲۵۱ لیږدیز لمریز کال کې خپره شوه، د سید یو شاګرد مولوي عبدالروف د هغی مسوول مدیر وو)
ب- د امیر په دربار او حکومتي دربارونو کې یې د متمدنو طریقو او نوي نظم بنسټونه رامینځته کړل، افسوس چې د هغی زمانې ټول دفتري کاغذونه ضایع شوي دي.
ج- د دولتي ښوونځیو د جوړولو طرحه یې وړاندی کړه، او دښوونی د پرمختګ لپاره یې تدابیر غوره کړل.
د- دولتي روغتونونه.
ه- د پسته خانو کوم منظم انتظام نه وو موجود، هغه یې په نویو بنسټونو ودراوه.
و- د وزیرانو د شورا مجلس یې جوړ کړ.
ز- بهرنیو هیوادونو ته یې د استازو او سفیرانو د لیږلو بندوبست وکړ.
ح- ملي اردو ته پام درلودل: د افغان سید څخه د مخه په افغانستان کې کومی منظمې اردو شتون نه درلود،دده د ډیر زیار څخه وروسته افغانستان په دی وتوانید چې د یوې نسبتاً پرمختللې اردو بنسټونه ووینی، (د سید جمال الدین له هڅو نه وړاندې په افغانستان کې یوې داسې اردو چې بشپړ نظم او اصولنامه ولري، شتون نه درلود، بلکې داسې کسان وو چې یواځې وسله یې په اوږه ایښې وه، نه له جنګي فنونو څخه خبر وو او نه هم پوځي چارو ته کومه ځانګړی اداره ټاکلی شوې وه، عسکري خدمت ته د جلب لپاره د افرادو د ټاکلو کوم معیار نه و ټاکل شوی، او څوک چې به عسکري خدمت ته جلبیدل هم کومه ښوونیزه او روزنیزه دوره یې نه تېروله. د سید جمال الدین افغان له برکته په افغانستان کې د زړورو ځوانانو یوه منظمه داسې اردو منځ ته راغله چې د قانون تابع وه او ځانګړي اصولنامه او نظامنامه یې لرله. افغاني سید به د اردو سرتیرو ته ویل: تاسو نه یواځې دا چې پیاوړي او ویښ انسانان یاست، بلکه د خپل هیواد د عزت او ناموس ساتندویان هم یاست).
ط- بل غټ کار یې داوو چې که له یوې خوا یې د لوړو زده کړو په خاطر بهر ته د افغاني ځوانانو د لیږلو بندوبست وکړ، له بلې خوا یې د افغاني کوچنیانو د زده کړو په خاطر د عصري ښوونځیو د جوړولو هڅې او پلانونه د ډېر ارزښت لرونکي وو، هغه په دې اند وو چې د دینې علم سره په څنګ، څنګ کې باید عصري علم ته په هماغه پیمانه وده ورکول شي چې مسلمان ملتونه د لویدیز د ساینسي او علمي پرمختګ سره د سیالۍ جوګه کړي.

مصر:

د افغاني سید د مبارزې له سترو ځانګړنو څخه دا وه چې په هر هیواد کې به یې د ملتونو د خپلواکۍ او ویښتابه، علمي پرمختګ، او اسلامي یووالي لپاره بنسټیزې هڅې کولی، په مصر- کې هم د افغان سید هڅې په ازهر کې د ځوانانو د شعور او احساس د پخولو او ویښولو څخه پیل شوې، هغه به ځوانان دې ته هڅول چې د علم د رواجي او کلیشه یې زده کړو له بندونو راووځي، او دیني او عصري علم دې په داسې توګه ترلاسه کړي چې ورته د خپلواکۍ، پرمختګ، اوعدل درس ورکړي، په همدغه تسلسل یې د مصري ولس د ویښونې په خاطر له ازهره نیولی تر مطبوعاتي زیارونو پورې ټولې سترې په سر واخیستې. د مصر لپاره د افغان سید مبارزه کولای شو په لاندې دریو برخو کې لنډه کړو:

۱- د ازهر پوهنتون او علماو اصلاح او ویښونه:

شیخ د خپلو اجتهاداتو په واسطه د علماو او مذهبي پاړکو په خیالاتو کې یو ستر انقلاب پیدا کړ، هغه د خپلو تعلیماتو په واسطه د مصري ولس په ځوان نسل کې ویښتابه او د عمل قوت پیدا کړ، د هغوی نظر یې پراخه او خیالات یې لوړ کړل، داسې ځوانان یې را پیداکړل چې د نوي تمدن او ساینس په مقابل کې یې خپل وقار وساته، او ورسره ورسره د نویو علومو څخه پردي هم نه شول، شیخ په مصر- کې د سوچه اسلامي مذهبیت سره سره د نوي دور د پرمختیاو روح پیدا کړ، د نوموړې ددغو خیالاتو سره د ازهر علماو مخالفت وکړ،لیکن د مخالفت سره سره نوموړي مذهب د ازهر له محراب او منبر څخه راوویست او بهر یې خلکو ته وښوده چې اسلام په نړۍ کې د ژوند په هره ځانګه کې د عملي حیثیت له مخې کامیاب دی، دې خبرې ته یې علما هم قایل کړل او نوي نسل خو ورته په جوش او جذبې سره لبیک وویل.

۲- د اخبار لیکنې په واسطه مبارزه:

دا افغان سید وو چې د لومړي ځل لپاره یې په مصر- کې اخبار او اخبار لیکونکي پیدا کړل، په هیواد کې یې د انساني حقوقو داسې اواز پورته کړ چې نن یې هم څوک د قوت په واسطه نه شي خپه کولای،که له نورو خدمتونو څخه یې سترګې پټې کړو، بس دغه یوه کارنامه یې هم په یوازی ځان یوه عظیم الشانه کارنامه ده.

۳- عامه ویښونه:

د ویناو، لیکنو، موعظو، او مختلفو تبلیغي تدبیرونو څخه شیخ د عامو خلکو په زړونو کې د حقوقو د غوښتنې داسې جذبه پیدا کړه، کومه چې تر ننه روښانه ده.

تلفات سنگین حوادث ترافیکی در افغانستان

مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

در کنار رویدادهای امنیتی و حوادث طبیعی، حادثه‌های ترافیکی نیز مرگبارترین رویدادها در چند سال اخیر در افغانستان بوده و یکی از عوامل افزایش میزان مرگ و میر در کشور می‌باشد.

هفتهٔ گذشته شاهد یک رویداد خونین ترافیکی در مسیر شاهراه کابل کندهار بودیم که منجر به کشته شدن ۷۳ نفر و زخمی شدن بیش از ۷۰ نفر دیگر شد. این حادثه (۱۹ ثور) در اثر تصادم و آتش‌سوزی دو موتر مسافربری از نوع ۳۰۳، در مربوطات ولسوالی مقر ولایت غزنی رخ داد.

تصادف خونین اخیر در غزنی واکنش‌هایی مبنی بر بی‌توجهی حکومت افغانستان برای پیش‌گیری از وقوع چنین حوادث ناگوار را نیز در پی داشت. به همین دلیل، رئیس جمهور غنی جلسه‌ای به هدف رسیده‌گی به قربانیان حادثهٔ غزنی دائر کرده و دستور داد تا هیئتی متشکل از نماینده‌گان پنج وزارت تشکیل گردد و به منظور پیش‌گیری از وقوع چنین رویدادهای ناگوار، طرح مشخصی را ترتیب و به ریاست جمهوری ارائه نمایند. از سوی دیگر، کمیسیونی نیز تحت ریاست انجنیر محمد خان معاون اول ریاست اجرائیه به منظور پیش‌گیری از حوادث ترافیکی تشکیل گردید.

مقام‌های وزارت ترانسپورت افغانستان به تاریخ ۲۱ ثور طی نشست مشورتی با معاون اول ریاست اجرائیه اعلام داشت که از میان ۹۴۳ شرکت حمل و نقل، جواز فعالیت نزدیک به ۲۳۰ شرکت را به دلیل عدم رعایت قوانین ترافیکی لغو کرده‌اند. از سویی هم گروه طالبان در واکنش به حادثهٔ ترافیکی اخیر گفته است که در صورت تکرار چنین حوادث در آینده، با شرکت‌های ترانسپورتی برخورد جدی خواهند کرد.

تلفات سنگین رویدادهای ترافیکی در افغانستان نگرانی‌های زیادی ایجاد کرده است. اما پرسش اینجاست که چرا حوادث ترافیکی همه‌ساله افزایش می‌یابد؟ چه اقداماتی روی دست گرفته شود، تا از وقوع چنین رویدادها جلوگیری صورت گیرد؟

آمار روز افزون حوادث ترافیکی

میزان حوادث ترافیکی در افغانستان از سال ۱۳۸۷ به این‌سو همه‌ساله روبه افزایش بوده است. در سال ۱۳۸۷ مجموعاً ۲۴۲۳ حادثهٔ ترافیکی در کشور رخ داده بود و این رقم تا سال ۱۳۹۲ به ۴۳۹۳ مورد افزایش یافت.

هرچند آمار احصائیوی رویدادهای ترافیکی در ۱۳۹۳ و ۱۳۹۴ در دست نیست؛ ولی بربنیاد معلومات برخی نهادها، تعداد حوادث ترافیکی در این دو سال نسبت به سال‌های پیش نیز افزایش یافته است و در سال ۱۳۹۴ رقم حوادث در کشور به ۶۷۲۹ مورد رسیده است.

در طول سال‌های گذشته، اکثریت حوادث ترافیکی به دلیل تیزرفتاری موترها به وقوع پیوسته است. به گونهٔ مثال، در سال ۱۳۹۲ از مجموع ۴۳۹۳ حادثه ۱۹۹۵ موتر تیزرفتار دچار حادثهٔ ترافیکی شده است.

تلفات حوادث ترافیکی در افغانستان

بر اساس معلومات سازمان جهانی صحت، افغانستان یکی از کشورهایی است که گراف تلفات ناشی از رویدادهای ترافیکی در آن بلند می‌باشد. بربنیاد گزارش سازمان جهانی صحت در سال ۲۰۱۵ که در آن معلومات سال ۲۰۱۳ ارائه گردیده، ۴۷۳۴ تن در نتیجهٔ حوادث ترافیکی در افغانستان جان داده‌اند و در هر یک صد هزار نفر ۱۵,۵ نفر در اثر این حوادث، به کام مرگ رفته‌اند.

از جانب دیگر، مقام‌های رسمی در کشور این ارقام را کم‌تر از آنچه که نهادهای بین‌المللی ارائه کرده، عنوان می‌کنند. به عنوان مثال، مسؤولین بخش رویدادهای ترافیکی افغانستان می‌گویند که در سال ۱۳۹۳ حدود ۳۲۷۷ حادثه ترافیکی صورت گرفته است که در نتیجه ۱۲۹۷ نفر کشته و ۳۹۴۶ نفر دیگر زخمی شده‌اند. براساس معلومات مقام‌های افغان به طور اوسط روزانه بیش از ۱۰ تن قربانی این رویدادها می‌گردد.

در این میان، برخی آمارها نشان می‌دهد که ۷۰ درصد تلفات رویدادهای ترافیکی در شاهراه‌های کشور اتفاق می‌افتد و ۳۰٪ دیگر هم در جاده‌های داخل شهرها. براساس محاسبهٔ برخی آمار، ٪۶۳ قربانیان این‌گونه حوادث مردان، ٪۱۳ زنان و ٪۲۴ کودکان می‌باشد.

در جریان سال‌های گذشته، حوادث ترافیکی پس از ناامنی‌ها بیش‌ترین تلفات را در کشور برجای گذاشته‌اند. بر اساس آمارهای ارائه شده، از

سال ۲۰۰۵ تا سال ۲۰۱۲، حدود ۳۵ هزار تن بر اثر حادثه‌ی ترافیکی در سراسر کشور جان داده‌اند.

عوامل افزایش رخدادهای ترافیکی

مشکلات جاده‌ها و راه‌های مواصلاتی، بارها از سوی مردم و رسانه‌ها به خصوص پس از همچو حوادث، مطرح شده است اما حکومت هنوز به این مشکلات توجه نکرده است و تدابیر لازم را برای جلوگیری از تکرار این‌گونه رویدادها در نظر نگرفته است. عوامل متعدد باعث وقوع رویدادهای مرگبار ترافیکی شده است، اما عمده‌ترین آنها موارد ذیل به شمار می‌رود:

۱. موجودیت فساد اداری در نهادهای ترافیک: فساد در این نهادها باعث گردیده تا راننده‌گان به آسانی به جواز راننده‌گی دست‌یابند. چنانچه بر اساس یک گزارش از ۱۰۰ رانندهٔ که تنها در شهر کابل مورد پرسش قرار گرفته، ۴۰ تن آنها گفته اند که از راه قانونی جواز راننده‌گی را به دست آورده‌اند. بر اساس همین گزارش، به صورت رسمی برای دریافت جواز راننده‌گی ۷۲۰ افغانی مصرف می‌شود، درحالیکه با پرداخت ۸۰۰۰ افغانی می‌توان آنرا از طرق دیگر نیز به دست آورد. بر علاوه، چشم پوشی از تخلفات ترافیکی راننده‌گان در مقابل دریافت رشوه نیز، مورد دیگر فساد در بخش ترافیک می‌باشد.

۲. معیاری نبودن و خرابی سرک‌ها: به دلیل موجودیت فساد گسترده در قراردادهای سرک‌سازی، شتاب زده‌گی در ساخت سرک‌ها، بیشتر سرک‌ها و جاده‌های کشور به صورت غیر معیاری توسط شرکت‌های غیرفنی و کم‌تجربه ساخته شده و طبق استندردهای جاده‌یی جهان نمی‌باشد. عدم کنترول وزن مجاز وسایط بابری و انفجارها و حوادث ناامنی نیز باعث گردیده تا سرک‌های کشور تخریب شوند. بنابراین، کم‌عرض بودن و معیاری نبودن جاده‌ها و تخریب آن نیز یکی از افزایش حوادث ترافیکی به شمار می‌رود.

۳. بی‌احتیاطی راننده‌گان و نقض قوانین ترافیکی: بی‌توجهی مقامات ترانسپورتی کشور، عدم نظارت ترافیک بر وسایط نقلیه در شاهراه‌ها و نبود قانون منظم ترانسپورتی باعث شده تا راننده‌گان موترهای مسافربری همواره از مقررات ترافیکی سرپیچی کنند، چون تاکنون شرکت‌های ترانسپورتی به طور قانونی به دلیل چنین حادثات از سوی وزارت ترانسپورت مورد بازپرسی قرار نگرفته است.

۴. سرعت بیش از حد و نبود علایم ترافیکی: تیزرانی و سرعت بیش از حد یکی از جدی‌ترین عوامل حادثات ترافیکی در کشور است. بسیاری از راننده‌گان در مسیر شاهراه‌ها با سرعت بسیار بالا رانندگی می‌کنند. آمار حوادث ترافیکی نشان می‌دهد که سبب وقوع بیشترین حوادث ترافیکی وسایط نقلیه تیز رفتار می‌باشند. به گونهٔ مثال، تنها در سال ۱۳۹۲ از مجموع حوادث ترافیکی ۴۵,۴ درصد حادثهٔ موترهای تیزرفتار بوده و ۲۵,۴ درصد آن حوادث موترسایکل‌ها بوده است. از جانب دیگر، در شاهراه‌های افغانستان از نشانه‌های ترافیکی خبری نیست و کنترولی بر محدودیت سرعت موترها هم وجود ندارد.

۵. اعتیاد راننده‌گان به مواد مخدر: اکثراً راننده‌گان وسایط نقلیه باربری که راه‌های دور و درازی را در شب می‌پیمایند، از مواد نشه‌آور استفاده می‌کنند. انجنیر محمد خان، معاون اول ریاست اجرایی، در نشست مشورتی با وزیر ترانسپورت، رئیس ترافیک و مسئول اتحادیهٔ شرکت‌های ترانسپورتی، بر تطبیق مقررات رانندگی به منظور جلوگیری از همچو رویدادها تاکید کرد. او گفت بسیاری از رانندگان در شاهراه‌ها چرس (حشیش) می‌کشند و در حالت نشه رانندگی می‌کنند. درکنار این، استفاده از یک راننده در مسیرهای دور باعث خسته‌گی و خواب آلودگی راننده گردیده و باعث حوادث ترافیکی می‌گردد.

۶. رقابت میان شرکت‌های ترانسپورتی: راننده‌گان شرکت‌های ترانسپورتی می‌گویند که شرکت‌های ترانسپورتی به راننده‌گانی که مسافر را زودتر انتقال دهند امتیاز می‌دهند و این یکی از علت‌های تیزرانی است که در هنگام سبقت گرفتن از دیگری، باهم برخورد می‌کنند.

۷. عدم رعایت ترتیبات حفاظتی: بستن کمربند محافظتی در هنگام رانندگی، ویا پوشیدن کلاه در هنگام راندن موترسایکل می‌تواند از برخی تلفات حوادث ترافیکی جلوگیری کند. ولی در نظر نگرفتن مقررات حفاظتی باعث گردیده که گراف تلفات ناشی از حوادث ترافیکی در افغانستان سیر صعودی داشته باشد.

راه‌حل‌های کاهش تلفات و حوادث ترافیکی

از آنجایی که حفظ جان مردم یکی از وظایف اساسی حکومت شمرده می‌شود، پس حکومت باید اقداماتی را روی دست گیرد، تا از وقوع چنین رویدادها جلوگیری صورت گیرد. موارد زیر، بخشی از راه‌حل‌های کاهش تلفات و حوادث ترافیکی به شمار می‌رود:

- تطبیق قوانین ترافیکی؛ به گونهٔ مثال استفادهٔ راننده‌گان و سرنشینان از کمربند امنیتی و پوشیدن کلاه ایمنی راننده‌گان موترسایکل.
- مبارزه با فساد اداری در قراردادهای سرک‌سازی و ارگان‌های ترانسپورت و ترافیک به خصوص در اخذ جوازهای راننده‌گی.
- نصب سرعت‌سنج در جاده‌ها و شاهراه‌ها برای معلوم کردن سرعت موترها، نصب علائم ترافیکی و فعال ساختن ترافیک شاهراه در تمام شاهراه‌ها.
- کنترول وزن وسایط نقلیه، بخصوص وسایط نقلیه باربری تا از تخریب سرک‌ها جلوگیری به عمل آید.
- آموزش علایم ترافیکی به دانش‌آموزان مکاتب.

په کابل کې د "جمعیت اصلاح او مثبت تمدني بدولون"

تر سرلیک لاندې کنفرانس تر سره شو

د هیواد په بلازمینه کابل کې د پنجشنبې په ورځ د ثور د میاشتې ۳۱مه د جمعیت اصلاح له لوري د (جمعیت اصلاح او مثبت تمدني بدلون) تر سرلیک لاندې کنفرانس تر سره شو، چې په کې ګڼ شمېر کسانو ګډون وکړ.

یاد کنفرانس په خوشحال‌خان مینه کې د آریانا کابل هوټل کې له غرمې وروسته په ۲ بجو د قرآن‌کریم په تلاوت سره پیل شو، وروسته قدرمن دکتور شیرعلي ظریفي د "د اسلام په هکله د جمعیت اصلاح لید لوري" تر سرلیک لاندې خبرې وکړې او دا یې په ډاګه کړه چې جمعیت اصلاح د اسلام اصلي اعتدالي لاره پر مخ بیایي. وروپسې د ګډوان‌والو پوښتنو ته ځوابونه وویل شو.

د پروګرام دویم ویناوال د جمعیت اصلاح رئیس دکتور عبدالصبور فخري ؤ چې د "اساسات پروسه تغییری جمعیت اصلاح" په اړه یې هر اړخیزه وینا وکړه او ویې ویل چې جمعیت اصلاح په سوله‌ایزه توګه په ټولنه کې د مثبت بدلون لپاره کار کوي او د فرد، کورنۍ او سالمې ټولنې په جوړولو سره غواړي چې له هیواد څخه د ناخوالو ټغر ټول کړي.

د دکتور فخري له وینا وروسته استاد قاري اسدالله ساطع په ښکلي غږ ترانه وړاندې کړه، ورپسې د تعلیم او تربیې پوهنتون استاذ محترم عبدالاحد مسلم "د هیواد په مادي او معنوي بیا رغونه کې د جمعیت اصلاح ونډه" تر عنوان لاندې ګډون‌والو ته خبرې وکړې، او د جمعیت اصلاح په خداماتي برخو یې رڼا واچوله.

د پروګرام په بله برخه کې د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د مدرسې زده‌کونکو په خپلو خوږو آوازونو ګډونوالو ته ښکلې ترانه واوروله، چې د ټولو د پام وکړ وګرځېده.

وروسته د جمعیت اصلاح د تاریخ، پروګرامونو او کړنو په اړه یو ویډیو فلم نمایش ته وړاندې شو، چې په تیرو ۱۵ کلونو کې یې په ټولنه کې د جمعیت اصلاح پر فعالیتونو رڼا اچوله.

د پروګرام په وروستۍ برخه کې شیخ القرآن مولانا عبدالصبور حقاني د کنفرانس ارزونه او نتیجه ګیري وکړه او په آخر کې یې په دعا سره پروګرام پای ته ورساوه.





په ختیځ زون کې
د (جمعیت اصلاح او تمدني بدلون حقیقت) کنفرانس

اصلاح رسنیز گروپ/ عبدالله حامد

یاد کنفرانس د ۱۳۹۵ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۹مه نېټه له غرمې وروسته د جلال آباد ښار پنج ستاره هوټل کې د اکرام الله واحدي په ویاندوی او د محترم قاري صاحب عبدالله نوري لخوا د قران عظیم الشان په څو مبارکو ایتونو تلاوت سره پېل شو.

پیلیزه وینا د جمعیت اصلاح ختیځ زون مسؤول محترم استاد عبدالرحیم صراف وکړه او راغلو میلمنو ته د ښه راغلاست تر څنګ یې زیاته کړه چې اسلام دین د بعثت له پېل څخه تمدني پروسه له ځانه سره لري هغه ټول ظلمونه او وحشت چې په جاهلیت کې وجود درلود د اسلام له راتګ سره له منځه ولاړ اوس هم که چېرې مسلمانان خپل اسلام دین په شمولي او سمه توګه وپېژني نو له ستونزو څخه د خلاصون لاره به ومومي.

د کنفرانس دویم وینا وال دجمعیت اصلاح مرکزي شورا غړی او د سلام پوهنتو ن استاد محترم محمد نعیم جلیلی ؤ، چې دخپلو خبرو په یوه برخه کې یې وویل: اصلي جګړه د تمدن جګړه ده، ځکه چې د انسان فکر ورسره ویشل کیږي، د اسلامي ټولنې د نورو شیانو تر څنګ فکر هم له بل ځای څخه وارديږي، او همدغه وجه ده چې زمونږ ځوانان د ژوند د ټولو مسائلو حل د غرب په تمدن کې ګوري، حال دا چې الله تعالی ته خوښ دین هغه اسلام دین دی.

د کنفرانس بل ویناوال د جمعیت اصلاح مرکزي شورا غړی اود ننګرهار پوهنتون استاد محترم دکتورصاحب نجیب الله صالح ؤ. هغه وویل: روانه پېړۍ د مسلمانانود خوځښت پېړۍ ګڼل کیږي، غربي تمدن له انساني محور نه وتلی او د نړیدو پر لور روان دی، ځکه چې خپل معنویت یې له لاسه ورکړی.

دکتور صاحب د خبرو په ترڅ کې پر مدني ټولنو غږ وکړ چې دغر ب لمنه دې پریږدي، په واقعي توګه د مدني حرکتونو ممثل شي، مدني حرکتونه یوازې په د فترنونو جوړولو نه، بلکې د ولس غږ په واقعي توګه راپورته کول او بیا د حل لارې چارې لټولو سره مدني فعالان پرمختګ کولی شي. هغه زیاته کړه، جمعیت اصلاح د ښځو لپاره هم پراخه کار کوي او ټولنې دنیمې برخې په توګه په خپل تشکیل کې د هغوی د روزنې او پرمختګ لپاره هر اړخیزه هڅې کوي، د ولسونو بیداري، د سیاسي احزابو سره په ګډه کار کول، دخیریه کارونو لپاره د احسان خیریه ټولنه، تر څو د مصیبتونو او زلزلو پر مهال له بی‌وزلو سره مرسته او لاس نیوی وکړي، د طب، تعلیم او رسنیو په په برخه کې هم مونږ ټولنې ته خدمات وړاندی کوو.

کنفرانس د ننګرهار د علماوو د شورا د رئیس محترم مولوی حمیدالله په دعا سره پای ته ورسید.

کانفرانس (جمعیت اصلاح، پروسه تمدنی وفراگیر) در زون شمال شرق

کانفرانس با گردانندگی استاد محمد حبیب شعیل مسؤول شعبهٔ کندز و تلاوت آیات چند از کلام الله مجید توسط نقیب الله ابراهیمی مسؤول فرهنگی زون آغاز گردید.

بعداً محترم مولوی عبید الله نظری مسؤول مجمع علمی در زون شمال شرق پیرامون (دیدگاه شمولی جمعیت اصلاح در مورد اسلام) صحبت مفصلی نمود. سپس تیم ترانهٔ نجم کندز با سرکردگی قاری محبوب الله ثابت ترانهٔ (با عزم آهنین) را زمزمه نمودند.

استاد محمد عاطف عضو هیئت رهبری و مسؤول جمعیت اصلاح در زون شمال شرق پیرامون (تمدن اسلامی، نیاز بشریت) صحبت نموده گفت: بشریت به تمدنی نیازمند است که زمین را به آسمان پیوند داده ربانیت را در ضمیر انسانیت زنده سازد، قلبها را سلیم ساخته عقلها را توجیه نموده، در خدمت بشریت قرار دهد. و آن تمدن جز تمدنی اسلامی نخواهد بود؛ چون بشریت همه تمدنها را تجربه نمودند و جز قتل عباد و تدمیر بلاد خاطرهٔ از آنها ندارند.

آخرین سخنران کانفرانس محترم استاد سمیع الله دانشیار عضو شورای مرکزی جمعیت اصلاح پیرامون (صلح و وحدت و دست آوردهای جمعیت اصلاح در این مورد) صحبت نمود.

برنامه با دعائیهٔ محترم مولوی صاحب خوش محمد وکیل شورای ولایتی کندز پایان یافت.

هفته نامه
بجز اصلاح اراده دیگری ندارم
اصلاح ملی
دا اسلام دا اصیل فهم منبر

- اصلاح ملی در ویرایش مطالب دست باز دارد.
- مطالب آمده مسترد نمی شود.
- مطالب منتشره بیانگر آرای نویسنده گان است.

شعار ما

اصلاح فرد، خانواده و جامعه.
تأمین عدالت اجتماعی و قانونیت در کشور.
ترقی و انکشاف همه جانبهء افغانستان.

مرکز تشخیصیه
لابراتوار طبی سفیر

Safir Medical Laboratories

لابراتوار طبی سفیر
یک نام مطمئن در عرصهٔ
اجرا معاینات معیاری لابراتواری

هرنوع معاینات لابراتواری از قبیل بیوشیمی، سیرولوژی، روتین خون، ادرار، مواد غایطه، TFT,Semin Analysis پتالوژی و کلچر با سامان و لوازم مجهز و مدرن لابراتواری توسط دوکتوران و تکنالوجستهای مجرب با معیارات لابراتواری اجرا میگردد.

Safir Medical Laboratory Diagnostic Center

آدرس:
کابل، منزل دوم سپین زر پلازه، نزدیک سینما بهارستان کارته پروان.
۰۷۹۹۱۵۲۳۲۹-۰۷۷۲۱۲۸۵۸۳
غزنی: منزل دوم اپارتمان دوم فرخی هوتل بازار صرافی شهر غزنی
۰۷۰۰۹۲۸۴۹۸
لغمان: شهر مهتر لام بابا، مقابل ریاست برق مارکیت حاجی طاؤس
۰۷۹۹۸۷۸۴۲۳ - ۰۷۷۸۴۵۵۷۷۸
Email:
safirlab_kbl@yahoo.com

با ۱۶ ساعت نشرات در شب و روز

مژده برای علاقمندان کتاب

کتاب، دروازه ای است به سوی جهان گسترده دانش و معرفت. کتاب، همچون خورشید، فضای زندگی را روشن می کند و به همگان نور، شور و گرما می بخشد. کتاب، مثل باران بر سرزمین دل ها می بارد و اندیشه ها و کردارها را رونق، زیبایی و طراوت می دهد و انسان را به بلندای علم و دانش می رساند.
جمعیت اصلاح افغانستان به غرض بلند بردن سطح علمی ومعلوماتی هموطنان عزیز کتابخانه ی به نام سیدجمال الدین افغان را تأسیس کرده و این کتابخانه در خدمت شما عزیزان است و می توانید از این فرصت استفاده کنید. این کانون کتاب با بخش های:

- تفسیر و علوم قران
- حدیث و اصول حدیث
- فقه و اصول فقه
- تربیت و دعوت
- سیرت نبی علیه السلام و سیرت صحابه رضی الله عنهم
- داستان انبیاء علیهم السلام
- عقیده و فکر
- تزکیه و تصوف
- زن وخانواده
- اقتصاد
- طب
- انجنیری
- جغرافیه و تاریخ
- ادیان و مذاهب
- معاجم
- کمپیوترساینس
- ژورنالیزم
- زراعت و دامداری
- سیاست
- حقوق
- زبان و ادبیات
- روان شناسی
- جامعه شناسی
- دایرهٔ المعارف
- شخصیت ها
- و...

استفاده از کتابخانه رایگان است

فرصتی است برای شما در تحقق آرزوهای شما؛ بیایید از این فرصت طلایی برای رفع عطش علمی خود استفاده نماییم و به بلندای علم و دانش قدم گذاریم.

اوقات استفاده از کتابخانه سیدجمال الدین افغان:
این کتابخانه از ساعت ۸:۰۰ صبح – ۵ عصر در خدمت شماست
روزهای شنبه خاص برای خانمها

آدرس: خوشحال مینه؛ عقب بلاک های شاداب ظفر، کوچه اصلاح، کتابخانه سیدجمال الدین افغان. شماره تماس: ۰۷۰۰۱۷۲۴۵۶

AIMA

کلینیک دیوان بیگی

داکتران مجرب، لابراتوار مجهز،ادویه با کیفیت
مکان خوب برای معالجه و چک اپ عمومی شما واطفال تان.
با همکاری تخنیکی انجمن طبی اسلامی افغانستان.

موبایل: 0782040294 - 0202563051 - 0202563050

اعلانات شما را می پذیریم

هفته نامه اصلاح ملی
در ۲۸ ولایات کشور به تیراژبلند توزیع می گردد
اصلاح انلاین
پر بیننده ترین صفحه انترنتی افغانی
www.eslahonline.net

رادیو صدای اصلاح 104.3 FM
با ۱۷ ساعت نشرات در شبانه روز
شماره تماس: 0786945943